


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جُـو جُـو

ناول

ليكوال:
نصير احمد احمدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب ټول حقوق د ليکوال سره خوندي دي .

# د کتاب پېژندنه

دکتاب نوم: جُـوجُـو (نـاول)

ليکوال: نصير احمد احمدي

د ليکوال برېښناليک nasirahmad_ahmadi@yahoo.com

انلاين چاري: مختار احمد احسان - د لراوبر ډاټ کام برېښنايي کتابتون

www.Larawbar.com

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیل

څوارلس کلن هلک تندي واخیست، لاس یې وتپاوه، تشه درۍ وه، سترګې یې رڼې کړې، کېناست، له کړکۍ څخه د سپوږمۍ راوتلې رڼا پر بدنۍ لګېدله.
هلک اوبه وڅښلې، بېرته اوږد وغځېد، کړپ شو، ترلې بسترې ته یې وکتل، سترګې یې رډې راوختې، خوله یې چیغې ته خلاصه کړه، نه کېده، ژبون یې وهل شوی و.
پر لاسونو یې زور راووست، د ولاړېدو سېکه یې ختلې وه.
تر څنګ یې بسترې ته وکتل، هېڅ هم نه و، یو دم ولاړ شو، په کلا کې زوروره ناره راوګرځېده!
ـ ادې!!!

* * *

په دهلېز کې ډېر نارینه غږ واورېدل شو:
ـ یالله، ملا صیب راغی.
ښځو منډه واخیسته، یوې تفدانۍ په پښه ووهله، د بلې د ټکري پیڅکه د بدنۍ په څوښکه کې بنده شوه، ټولې له کوټې ووتې.
دوه تنه راغلل، له عمره پاخه ول، غټې ژېړې لونګۍ یې ترلې وې.
یوه، د پراته هلک لاس ور پورته کړ، یوه شېبه غلی و، بیا یې وویل:
ـ نبض یې ښه دی.
لاس یې پرېښود، د هلک مخ ته یې وکتل، ورو یې وویل:
ـ ملک صیب! ماته خو د وېرې علامه ښکاري، شونډه یې وتلې ده.
ملک پراته هلک ته کتل....
سړي وویل:
ـ له څه وخته راهیسې همداسې بېحاله دی؟
ملک ټوخې واخیست، کڅوړنې سترګې یې له اوښکو ډکې شوې، په زحمت یې وویل:
ـ بس! نیمه شپه یې چېغه کړه! ورغلو، په مټ کې یې تر چوترې ځان را رسولی و.
سړي د سدرۍ (واسکټ) له جېبه قلم را وایست، کوچنې چوکاټونه یې ولیکل، کاغذ یې ملک ته ونیو!

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـد پېريانو علامه ده، خو ته فکر مه خرابوه، دا تاويذ په اوو سرو تو تو کې ونغاړئ، هلک ته يې ور په غاړه کړئ، خدای به کوي، تاويذ به کوي، د انس و جنس له شره به په امن وي.
ملک کاغذ ور واخيست، ملا ته يې د شلو افغانيو لوټ ونيو، دواړه له کوټې ووتل.

* * *

هلک په دوهم سهار سترګې رڼې کړې، د جارو غږ يو دم ودرېد، يوې پېغلې منډه واخيسته، له چوترې چيغه راغله:
ـملک لالا، تواب په سد راغی!
کوټه له وړو زړو ډکه شوه، ملک او دوه نور نارينه تواب ته نږدې کېناستل، ښځې له وره سره ولاړې وې.
تواب په وېره يوې بلې خوا ته کتل...
ملک د هغه لاس ور پورته کړ، په خپل ټتر پورې يې ټينګ ونيو، په خوند يې وويل:
ـتوابه زويه! زه يم، ملک لالا دې.
ويې ټوخل، يوې ښځې په بېړه توفدانۍ ورته ونيوله.
هلک هماغسې وارخطا سترګې رغړولې.
ملک په زوته وويل:
ـبلا! وه بلا!
يوه ډنګره ښځه رامخته شوه، خړ ټکری يې پر مخ ور کش کړ، غلې ودرېده:
ـڅه وايې ملک لالا؟
ـزوی ته دې شېدې راوړه.
ښځه په بيړه له کوټې ووته.
ملک، تواب تر غومبري کش کړ، يو دم يې وخندل:
ـاه! د ملک لمسی او دومره وېره. زړور اوسه، زه، پلار او تره دې، ټول دلته يو.
هلک هماغسې سترګې رغړولې.
ښځينه وارخطا غږ واورېدل شو:
ـهه! دا دی!

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملک له شیدو ډک ګیلاس ورواخیست، د تواب خولې ته یې ور ووړ، هلک مخ واړاوه.
ملک وویل:
ـ وڅښه !
تواب ور ونه کتل.
ملک په عمر پاخه ځوان ته مخ ور واړاوه، ورو یې وویل:
ـ باتوره زویه ! یوازې به یې پرېږدو.
دړې نارینه ولاړ شول
ملک ناره کړه:
ـ بلا ، وه بلا !
ښځې په رېږدېدلي غږ وویل:
ـ څه وایې ملک لالا !
ـ په کړاسې ( هلک ) پام کوه !
د ښځې د ټکري پیڅکې لړزېدلې.
ټول له کوټې ووتل، ښځې په بیړه دروازه پورې کړه، ورغله، د هلک سر یې په غېږ کې ونیو ، په چیغو چیغو یې وژړل...
تواب وویل:
ـ ادې، اوس ښه یم.
ښځې د خپل زوی پر تندې شونډې کېښودې. په ژړا کې یې وویل:
ـ زما خو دې لړمون خوړین که.
وروسته یو دم ولاړه شوه، له خړ دېواله یې یو چوکاټ شوی عکس را بېل کړ، په عکس کې یوه نوراني بوډا اوږده، سپینه ږیره نیولې وه، پر دواړو اوږو یې کوترې ناستې وې، پر غاړه یې شنې، زرغونې مرۍ را ځړېدلې. ښځې عکس ښکل کړ، د هلک پر ټټر پورې یې وموښه، له ځان سره یې وویل:
یا غوث الاعظمه ! را رسېږه.
بیا یې ګیلاس ور واخیست، د زوی خولې ته یې ورنږدې کړ، هغه دوه، درې غوړپه شیدې وڅښلې، ورو یې وویل:
ـ ادې ! اجبه بلا مې ولیده.
ښځې په حیرانۍ ورته کتل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



تواب وویل:

ـیوه لوښت، ژوندی شی پر بسترې ناست و، د پلاستیک غوندې روڼ بریښېده، لاسونو او پښو یې درې، درې ګوتې درلودې، یوه سترګه یې وه، هغه هم په تندي کې.

ښځې د هلک پر بغور شونډې کېښودې، ورو یې وویل:

ـاه ! زویه ! ځینې خوبونه درانه وي.

د تواب تندی تریو شو:

ـپه کوران که درواغ درته وایم، په خپله مې ولید، د انګورو د پاڼو غوندې غوږونه یې وو.

ښځه ورو ولاړه شوه، عکس یې په احتیاط را وځړاوه، ویې ویل:

ـځم چې غوږ پاستی درته راوړم.

* * *

توپ باغ ته واوښت، هلکان دېوال ته غلي کېناستل، یوه وویل:

ـدا د توپ بازۍ له پاره ښه ځای نه دی، تېره ورځ هم همدا کانه راباندې وشوه، له باغوانه په منډه را خلاص شوو.

بل په خبره کې ورولوېد:

ـتا توپ تر دېوال واړاوه، ته به یې را اخلې.

ـنه.

ټول غلي شول.

یوه وویل:

ـتواب ته څه نه وایي، باغوان، له ملک کاکا سترګه کوي.

تواب د مکتب بکس دېوال ته ودراوه، یو هلک په بیړه ولاړ شو، د دواړو لاسونو ګوتې یې سره ور وستې، تواب پښه پرې کېښوده، غبرګ لاسونه یې د پخځې سر ته ورسېدل، پښې ته یې زور ورکړ، له پورته مړې لوتې راولوېدې، درب شو، تواب په باغ کې و.

غلی کېناست، مخامخ یې وکتل، د منو ګڼې ونې ولاړې وې.

مخکې لاړ، اوږه یې د یوې ونې څانګې ته سیخه شوه، لاندې، په شنه رشقه کې څو نیمخامه منې ولوېدې.

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېووت، سپينه جنت کوکۍ ) پتنګ ) والوته، د رشقي شنې پاڼې يې سترګو ته ودرېدې، سر يې پورته کړ، د ونو تر سپېرو تنو ور هاخوا د چنار له لښتو جوړه ځاله ښکارېده.
په بيړه يې شاوخوا وکتل، د توپ درک نه و.
کيڼ لاس ته تاو شو، کوهي ته يې وکتل، توپ د اوبو د را ايستلو ماشين ته نږدې پروت و.
ځير شو، کوهي ته د کوزېدو زينه ماته وه.
تواب يوه شېبه ودرېد، بېرته يې د دېوال خوا ته مخه کړه، درب شو، توپ يې پښو ته ولوېد.
تواب چيغه کړه، مخامخ پر دېوال ورغی، توپ يې کړل، لاسونه يې د دېوال سر ته ورسېدل، بېرته شا په تخته پرېووت، يوه لويه لوټه راغله، ځان يې ښنګ ته کړ، لوټه باد باد شوه.
باغوان ناره کړه !
ـ څوک يې؟
تواب د باغ د دروازې خوا ته منډه ور واخيسته، له مچلوغزې وار شوې ډېره يې تر غوږ تېره شوه، هلک ښوی له باغه ووت.
کور ته راغی، مور يې مخې ته ورغله، خو يو دم ځای پر ځای ودرېد ، په چوتره کې ملک ناست و.
تواب کوټې ته لاړ، زړه يې خولې ته راغی، توپ کټ ته نږدې پروت و.
د هلک تبه شوه، پلار يې ډاکټر ته بوت، ماسختن له خويندو سره پرېووت.
سهار يې سترګې ورغړولې، سترګې يې رډې راوختې، په غاب کې مالټې پرتې وې.
کړپ شو، هلک پر خپل سر کمپله ور کش کړه، د کمپلې تر چولې يې ور وکتل، له سپينو خيرنو پايڅو توري ډنګرې پښې راوتلې وې. ژر يې مخ لوځ کړ، مور يې په کاچوغه کې دوا اچوله
تواب په بيړه وويل:
ـ مالټې.
غولې ته يې وکتل، هېڅ هم نه و.
ښځې وويل:
ـ تر تا مې ځار کې، مالټو ته دې زړه شوی؟
د تواب سترګې رډې راختلې وې.
ښځې د هغه پر تندي لاس کېښود ، ورو يې وويل:
ـ په دې ځوړموني (پسرلي ) کې مالټې له کومه شوې.
تواب غولي ته کتل. بيا يې دوا وخوړه، غلی پرېووت.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library


ساعت وروسته ولاړ شو، په چوتره کې یې نیکه د چیلم نلکۍ خولې ته نیولې وه، بوډا یو دم وخندل، له خولې یې سپین لوګی راووت، هلک یې تر لاس کش کړ، پر څنګ یې کېناوه، په خوند یې وویل:

ـ اوس لکه چې ښه یې؟

تواب خپل نیکه ته وکتل، لا یې پر شونډو له پرتو سپینو بربتو څخه خړ لوګی راووت.

تواب ورو وویل:

ـ ځم، له هلکانو مې د مکتب بکس راوړم.

ملک یو دم چیغه کړه:

ـ بلا، وه بلا!

ښځه په بیړه راغله.

بوډا ټوخي واخیست، په زحمت یې وویل:

ـ بکس راوړه.

ښځه کوټې ته ننوته.

بوډا وخندل:

ـ بکس دې د عطاګي زوی راووړ، ویل یې چې په خاورو کې درنه پاتې و.

تواب غلی و.

بوډا وویل:

ـ له چا سره خو به دې نه وي خوړلې؟

هلک د (نه) په ښه سر وښوراوه.

ښځې وویل:

ـ هه!

تواب ور وکتل، مور یې بکس ورته نیولی و.

ورو ولاړ شو.

بوډا وخندل:

ـ چېرته؟

ـ ځم، کورنۍ وظیفه مې نه ده لیکلې.

تواب کوټې ته لاړ، کتابچه یې را واړوله، سترګې یې رڼې راوختې، ورکړل شویو پوښتنو ته سم ځوابونه لیکل شوي ول.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله کتابچه یې وکته. سوالونه حل وو.
ځان یې په کمپله کې ونغاړه، غلی کېناست.
قلم وخوځېد، تواب په راوتلو رډو سترګو ورته کتل. د کتابچې پاڼه واړول شوه، قلم ولیکل:
ـ له ما مه وېرېږه.
تواب د پوال ته ور وښویېد.
قلم ولیکل:
ـ مرسته غواړم!
هلک په ماته ګوډه ژبه وویل:
ـ ته، ته، څوک یې؟
ولیکل شول:
ـ د یوه لیرې ستورې اوسېدونکی.
هلک لړزې اخیستی و.
قلم ولیکل:
ـ زړه دې غټ ونیسه.
پر کتابچې لنډه رڼا راوګرځېده، رڼا د بوړبوکې غوندې پر خپل ځان را تاو شوه، یوه لوېشت ژوندی موجود ولاړ و.
موجود وویل:
ـ ماته جُوجُو ویلی شې.
تواب خپل ځنګنونه پر ټټر پورې ټینګ نیولې وو.
د جُوجُو د مردکې غوندې شنه سترګه وځلېده، په خوند یې وویل:
ـ هله نو، ډارن هلکان مې نه خوښېږي.
تواب غلی و.
د چرګې کوټ کوټ ته ورته غږ پورته شو:
ـ کوټ، کوټ، کوټ...
جُوجُو وویل:
ـ دا زموږ خندا ده.
غلی شو، په خوله کې یې د دواړو لاسونو نرۍ ګوتې ننه ایستې، خوله یې دواړو خواوو ته تر غوږو پرې شوه. په جدي انداز یې وپوښتل:

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـښه ښکارم؟
هلک په وېره ورته کتل:
جُوجُو وویل:
ـسمه ده، که دې خوښه نه وي، نو زه درنه ځم، هیله لرم چې تر تا زړور انسان پیدا کړم.
یو دم ورک شو.
تواب په بیړه له کوټې ووت، په چوتره کې ودرېد، نیکه یې په تېره بیاتي د پزې وښته اخیستل.
کلا ته یې وکتل، پلار یې د تراکتور په ماشین کې ګوتې وهلې.
بېرته کوټې ته لاړ.
غلی کېناست.
غږ یې واورېد:
ـتراکتور نه شي جوړولای.
تواب سترګې ورغړولې، هېڅ هم نه و.
په رېږدېدلي غږ یې وویل:
ـتا خراب کړی دی؟
سپینه رڼا پر خپل ځای را تاوه شوه، جُوجُو نری سیم پر غولي کېښود.
هلک په وېره وویل:
ـته ولې داسې کوې؟
جُوجُو پر غولي پروت توپ ته پښه ور وغځوله، درب شو، د لاټین نری شیشه لاندې را تویه شوه.
تواب چیغه کړه!
ـله دې ځایه ورک شه.
جُوجُو وخندل:
کوټ کوټ کوت...
هلک پیالې ته لاس کړ، پیاله سیخه پر جُوجُو ورغله، د جُوجُو بدن دوه نیمه شو، یوه برخه یې تر پیالې پورته پاتې شوه او بله هم لاندې. بېرته یې د بدن دواړه ټوټې سره ورغلې، خندا یې زور ونیو:
کوټ، کوټ، کوټ....
تواب ودرېد، د کوټې دروازه په خپله پورې شوه.
جُوجُو وویل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



_تاوان مې نه خوښېږي، خو په يوه شرط، مرسته راسره وکړه !
ماتې کوکۍ (د ښيښې ټوټې) ټولې شوې، ځراغ ودرېد ، جوړه شيشه ور ولوېده.
تواب جُوجُو ته وکتل، نه جُوجُو و او نه هم نرۍ سيم. له سرايه د تراکتور د چالانېدو غږ راغی.
بېرته سپينه رڼا پر ځان را وګرځېده، جُوجُو وويل:
_ستاسو په حساب پوره دوې مياشتې دلته وم، ته مې ځارلې، تر نورو زړور راته واېسېدلې.
تواب په رېږدېدلي غږ وويل:
_څه مرسته؟
جُوجُو پر خړ دېوال لاس تېر کړ، د کمپيوټر د سکرين غوندې لويه پرده راغله، عکس و، د جُوجُو غوندې موجود ښکارېده، خو تر جُوجُو په ونه لوړ و، نيم ګز، يا تر دې يو څه ډېر.
جُوجُو وويل:
_دا زموږ د مکتب مدير دی، په عکس کې دومره بد نه ښکاري، خو له نږدې يې مه ووينې، زړه به دې وچوي. بس، که په درس کې بې خونده وې، نو د غږ په ماشين کې دې اچوي.
جُوجُو غلی شو، يو دم يې وخندل:
_کوټ، کوټ، کوټ...
تاسو په مکتب کې لښتې خورئ، خو موږ درد نه احساسوو، د جزا له پاره مو په يوه ماشين کې ږدي، د غږ ماشين ورته وايي، اواز يې لوی عذاب دی، بنيادم يې د اورېدو تاب نه لري.
جُوجُو يوه شېبه غلی و، بيا يې وويل:
_اصلي خبره پاتې شوه، زه بايد پنځم صنف ته لاړ شم، د کاميابۍ يو شرط دا دی چې د نورو ستورو د اوسېدونکو په اړه به تحقيق کوم. ملګري مې په کايناتو کې سره تيت شول، ما هم ځمکه ومونده، لومړی ايران ته لاړم، د مکتب يوه زده کونکي ته مې ځان ور وښود، زړه يې ودرېد. بيا مې ستاسو وطن ته مخه کړه، دا کلی مې وموند، خو که ته هم مرسته راسره ونه کړې، نو مجبور يم چې بل ځای پسې وګورم.
تواب په حيرانۍ ورته کتل.
جُوجُو پر دېوال لاس تېر کړ، سکرين ورک شو.
ويې ويل:
_(نه) مه راته وايه.
تواب غلی و.
جُوجُو وويل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ دوې ورځې په مکتب کې درسره وم، اوف، دې ته نو درس نه شو ويلای. ماشومانو يوازې کاغذي طيارې جوړولې، د معلمانو له خولو د چايو پيالې نه ليرې کېدې، خو موږ داسې نه يو، زحمت باسو، ستاسو په حساب په پنځوس کاله کې ايله پينځم صنف ته راورسېدم.

تواب په حيرانۍ ورته کتل.

جُوجُو وويل:

ـ ستاسو پنځوس ورځې، زموږ يوه ورځ ده، زموږ ټول کال، سل ورځې وي.

يودم يې وخندل:

ـ پوښتنه دې ونه کړه چې څنګه؟

تواب غلی و...

ـ خير، زه به درته ووايم، زموږ ستوری تر ځمکې سل ځله لوی دی، خو کوچنی لمر لرو، ځکه مو ستاسو په حساب، ستوری په پنځوسو ورځو کې يو ځل پر خپل محور راګرځي.

تواب ورو وويل:

ـ نو ته څو کلن يې؟

په خپل حساب لس کلن، خو ستاسو په حساب سلو ته رسېږم.

ـ نو تاسو څو کاله عمر کوئ؟

موږ ناروغي نه لرو، هر يو مو سل کاله چې ستاسو زر کاله کېږي، عمر کوي.

ـ اوبيا؟

ـ چې وخت مو پوره شو، په خپله اور اخلو.

ـ نو زه څه مرسته درسره کولای شم؟

ـ بس، ډېر دې نه پاذابوم، کله کله مالومات راکوه! اوس بايد لاړ شم، ماخستن راځم، خو ګوره، په خپله کوټه کې به يوازې يې.

جُوجُو ورک شو.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * *

تواب ماخستن خپلې کوټې ته لاړ، مور يې پسې ورغله، خو ده ويل چې نه وبرېږم. په کمپله کې پروت و چې سپينه رڼا شوه.

جُوجُو وار له واره پر دېوال لاس تېر کړ، د کمپيوټر غوندې سکرين ته يې ګوته ونيوله، ويې ويل:

ــزموږ خط نه شې لېدلی، برقي حروف دي، خو زه به د خپل تحقيق يوه برخه درته ولولم.

ستاسو د څنګ په کلي کې يو واده و، د ډوډۍ په وخت کلا ته يو زلمی راغی، ديارلس، څوارلس کاله به يې درلودل، خپله خور يې پسې غوښته، خو د کور خاوند يوه روپۍ کړ، ويل يې چې نا محرمه يې، په منډه يې له کوره و ايست، خبره خلاصه نه شوه، د کور خاوند د باندې پسې ورغی، کليوالو ته يې وويل، څو کسه پر هلک ور ټول شول، دومره يې ووهه چې له اخه، ټوخه ولوېد، ويل يې چې زموږ خويندو، ميندو ته دې کتل. خو ماسپښين په همدې سرای کې دوو پياوړو ځوانانو ډول واهه، پېغلې پرې راګرځېدې، نه يې ځانونو ته پام وو او نه هم ټکريو ته، له څرخ سره به سپيني غاړې او خلاص ټټرونه ښکاره شول.

جُوجُو غلی شو، يو دم يې تواب ته وکتل، ويې ويل:

ــپوښتنه، دا دوه ځوانان څوک ول؟

هلک په حيرانۍ ورته وکتل:

ــډمان

ــله ټول کلي سره خپلوي لري؟

ــنه

ــمحرم دي؟

ــنه، خو په سيالانو کې يې نه ګڼو.

جُوجُو وخندل:

ــکوټ کوټ کوټ... اه، نږدې دی چې له ډېرې خندا اور واخلم.

يودم غلی شو، پر شيشه يې لاس تېر کړ، ويې ويل:

ــستا ځوابونه مې وليکل، د تحقيق استاد به مې حيران شي، ماشوم محرم نه دی، خو دوو پياوړو ځوانانو ته نځېدا محرمه ده. کوټ، کوټ، کوټ.... جُوجُو بچو، سم ځای ته راغلی يې، د تحقيق له پاره تر دې حيرانوونکي خلک نه شې موندلی. د دوی هر څه د سيالانو له پاره دي.

يودم غلی شو، ويې ويل:

ــګڼ کور مو دی، ټول مې وګڼل، نولس تنه يا ست، څه سره کېږئ؟

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



تواب وويل:

ـهغه چې ژېړه لونګۍ تړي، ډېر سپين برېتونه يې دي او ملک لالا ورته وايي، نيکه مې دی. چاچې تراکتور جوړ اوه، هغه مې پلار دی، هغه بل ډنګر سړی مو تره دی، اته اولادونه لري، پنځه لونې او درې زامن.

ـاو تاسو؟

ـزه او پنځه خويندې.

ـښه نو، اوس بايد خپلې سفينې ته لاړ شم.

تواب په حيراني وويل:

ـسفينه؟

ـستاسو په چوتره کې مې يوه ګرده جالۍ ولېده، بس لکه ټوکرۍ، کورت يې لمر ته پکې ايښې وو، سفينه هماغه رقم شکل لري، ځمکې ته پکې راغلم.

ـنو چېرته ده؟

په غونډيو کې مې يو ځای پټه کړې ده، اوس ځم، خو سبا به ټوله ورځ درسره يم.

جُوجُو ورک شو.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * *

د سهار د چايو له پاره په چوتره کې دسترخوان هوار شو، نيکه بر سر، بالښت ته ډډه ووهله، ورپسې يې دوه زامن ځړېدلي سرونه غلي کښناستل، بيا تواب او درې نور هلکان راغلل، ټول د بتانو په څېر بې حرکته ول.

چوپه چوپتيا وه، کله کله به نيکه وټوخل، پيشو به ميو کړل، له غوجلې به د غوا رمباړه راووته.

پتنوس ورېږدېد، يوې پېغلې پيالې پر غولي کښښودې، بلې توره چايجوشه راوړه.

د تواب پلار چايجوشې ته لاس ور وغځاوه، پياله يې ورته ونيوله، نيکه يودم چيغه کړه!

_بلا، وه بلا!

د تواب مور په بيړه راغله، ودرېده، ټکرى يې پر مخ ورکش کړ، په خواره خوله يې وويل:

_څه وايې، ملک لالا؟

_ستړګې لړې که نه، ساده چاى دې راوړى دى.

ښځې د خپل خاوند په لاس کې نيولې پيالې ته وکتل، په رېږدېدلي غږ يې وويل:

_خو ما نجلۍ ته د شيدو له چايو ډکه چايجوشه ورکړه.

د بوډا تندى ترېو شو:

_نو زه دوروا غ وايم!

ښځې منډه واخيسته، شېبه وروسته نيکه د شيدو له چايو ډکه پياله خولې ته نيولې وه.

د تواب اوږه درنه شوه، تر څنګ يې ور وکتل، هېڅ هم نه و.

تواب ورو وويل:

_ته وې؟

ناستو کسانو په حيرانۍ تواب ته وکتل، هلک وارخطا شو، په بيړه ودرېد.

نيکه وويل:

_پياله دې ډکه ده.

_زړه ته مې نه کېږي. ناوخته دى، مکتب ته ځم.

کوټې ته يې منډه کړه، بکس يې را واخيست او له کلا ووت.

د جُوجُو غږ يې واورېد:

_که پولې ته وخېژې نو ښه به وي، لوند خيشت دې کړم.

تواب خپلو پښو ته وکتل، پايڅې يې لندې وې، دى په لنده شوتله کې روان و.

شاته تړلى بکس يې درونډ شو، جُوجُو وخندل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـدا ځای بد نه دی.
د هلک تندي ګونځې پیدا کړې:
ـتا باید چایجوشه نه وای بدله کړې.
جُوجُو وویل:
ـیوه پوښتنه؟
ـوایه.
ـنجونو او ښځو ساده چای خوړ، خو نارینه وو او هلکانو ته د شیدو له چایو ډکه چایجوشه ور وړل شوه، ولې؟
تواب وویل:
ـنیکه مې وایي چې هغوی نجونې دي، بلا یې نه وهي.
جُوجُو وخندل:
ـکوټ، کوټ، کوټ... هغوی ګېډې نه لري!
یو دم مړې دوړې راغلې، تواب وټوخل، دنوې لانډکروزر موټر په دروازو کې سهارني لمر ژېړې لیکې ایستلې وې، له ټایرونو یې خاورې پورته کېدلې.
جُوجُو وویل:
ـسړکونه مو ډېر خراب دي.
د تواب تندی تریو شو:
ـحکومت بلا وهلی.
جُوجُو وویل:
ـتېره اونۍ د ولسوالۍ بازار ته لاړم، دوه شیان ډېر ول، سوالګر او موټر...
هلک په خبره کې ورولوېد:
ـمونږ هم دوه موټره لرو، په دوه سپټه ټیوټا کې مې نیکه ګرځي، سراچه یې د کور د سودا له پاره درولې ده.
جُوجُو وپوښتل:
ـنو دا د کلیو سړکونه ولې د سیمې خلک نه جوړوي؟
تواب غلی و.
جُوجُو وویل:

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـګوره، ما دوې مياشتې دلته تېرې کړې، هر پنځم، يا شپږم کور موټر لري، موټر سايکل خوله حسابه تېر دي، خو د سړک جوړولو ته يې ملا ماته ده، ټول خلک حکومت او موسسو ته ماتله دي، بس، نوره ګټه خو يې درونه رسېده، جوړ سړکونه يې خراب کړل.

تېره اونۍ دوو دهقانانو ته ور وګرځېدم، دواړه په خپل مينځ کې غږېدل، له وچکالۍ يې شکايت درلود، ويل يې چې د موسسې درک ونه لګېد، کاريز وچ دی، فصلونه مو له تندې وسوځېدل. يو بل تن راغی، له عمره پوخ و، ويل يې چې پخوا خو دا موسسې نه وې، کاريز به مو په اشر پاکاوه، بد يې اموخته کړو، تر څو به د نورو خيرات ته ناست يو.

د ټوپک ډز شو، يوه پختکه راغله، د تواب پښو ته نږدې په راشنو شويو پيازو کې ولوېده.

جُوجُو په غوسه وويل:

ـدا چا وويشته؟

تواب مخامخ ګوته ونيوله، د چنار له ګڼو ونو يو ځوان راووت، ښکاري ټوپک يې په لاس کې و، يوې بلې خواته يې کتل.

د پيازو په شنو ډکو کې سپينه رڼا راتاو شوه، پختکې ټوپ کړل، جُوجُو تر جوړ وزر ونيوله، د پختکې پر مات وزر يې له روڼ پلاستيک جوړ لاس تېر کړ، وېنه ودرېده، پختکه والوته.

جُوجُو پسې غږ کړ:

ـسمه ده، خو له انسانانو ليرې ګرځه!

جُوجُو ورک شو، د تواب اوږه درنه شوه.

جُوجُو وويل:

ـپختکې مننه کوله، ويل يې چې تر انسانانو ښه ياست.

تواب وويل:

ـته د مرغانو په ژبه پوهېږې؟

ـزما ډېر کمالونه زده دي، راځه، دا کربوړی به راوغږوم.

تواب مخامخ وکتل، زړه يې خولې ته راغی، د کچالو په جووه کې غټ کربوړی پروت و.

تواب له ځمکې يوه لويه ډبره ورپورته کړه.

جُوجُو په بيړه وويل:

ـپام

بکس سپک شو، جُوجُو د کربوړي تر څنګ ولاړ و.

د هلک ګوتې خلاصې شوې، ډبره ولوېده، له پولې مړه دوړه پورته شوه.



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



جُوجُو وويل:
ـکربوړی ډېر خواشينی دی، وايي چې له انسانانو پزې ته راغلي يو، موږ هېڅ تاوان نه دی ور رسولی، په مخه نه ورځو، خو دوی تل ښېلچې راپسې اخيستې وې، نسل يې را ورک کړ.
تواب په خبره کې ور ولوېد:
ـخو کربوړي خطرناکه دي.
جُوجُو وويل:
ـداسې انسان راوښيه چې کربوړي کوم ازار ور رسولی وي؟
د هلک سر وځړېد.
جُوجُو وخندل:
ـزما په فکر انسان تر هر څه مضر او خطرناکه دی، يوازې خپل ځان ته اهميت ورکوي، دا نه وايي چې د ځمکې نور موجودات هم د ژوند کولو حق لري او که نه.
تواب وويل:
ـداسې هم نه ده، ګل ماما ته وګوره، که غوايان نه وای ورباندې ګران، شنه رشقه به يې نه ورته رېبله.
جُوجُو وخندل:
ـخو د غوايانو نظر هم مهم دی.
تواب له شنو غنمو تېر شو، ګل ماما ته يې له ليرې سلام وروا چاوه، غوايي ته ودرېد.
جُوجُو وويل:
ـپر ښتنن دې ګران يې، تازه رشقه درته رېبي.
برګ غوايي رمباړه کړه.
جُوجُو وويل:
ـغوايي ګيله کوي، وايي، ته خو انسان نه يې،نو بيا ولې داسې کم عقله پوښتنه کوې؟
هلک په بيړه وويل:
ـولې؟
تور غوايي رمباړه کړه.
جُوجُو وويل:
ـستا پوښتنه مې ور ورسوله، غوايي وايي، پلار يې ټول عمر د ګل ماما ځمکې واړولې، خو کله چې زوړ شو او له کولبې ووت، د قصاب چاړې ته يې سيخ کړ.

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



برګ غوايي رمباړه کړه.
جُوجُو وويل:
ـ سخت ناروغه دی، خو بايد څمکه واړوي، که يې ځان جوړ ونه ښود ، څښتن يې خيرات منلی.
تواب روان شو.
جُوجُو وويل:
ـ پوه شوې؟ ګل ماما له غوايانو سره مينه نه لري.
تواب وويل:
ـ مچانو ته هم بايد څه ونه وايو.
ـ اه ګرانه ! مچان له تاسو سره کومه علاقه نه لري، خپل ځانونه پاک وساتئ، مچان څه بلا درنه غواړي.
د مکتب تر دېواله، يو خوار سپی راتاو شو ، کوړنچ يې وهل، تېږه يې پښې ته سيخه شوې وه، ډله هلکانو منډې پسې وهلې.
جُوجُو وخندل:
ـ سپی وغړوم؟
تواب د مکتب په دروازه ننوت، اوږه يې سپکه شوه.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * *

ماسپښين دوې بجې وې، تواب لويه چايجوشه تر لاستي نيولې وه، د پولې پر سر پر يوه خوا کوږ تلو. چايجوشه يودم سپکه شوه.

تواب وويل:

_ښه وخت راغلې.

د جُوجُو غږ يې واورېد:

_چاى دى؟

_هو.

_نو چېرته يې وړې؟

_زړه کلا مو تنګه ده، نيکه مې وايي چې ډېر يو، ګذاره مو نه پکې کېږي، نوې ابادي يې شروع کړې ده.

هلک د باغ تر دېواله را تاو شو، يو چا غږ کړل:

_تشه چايجوشه دې راوړه؟

تواب يو دم کوږ شو، پر خړ پوټي تورچاى پربووت، پورته يې وکتل، يوه ګردي سرې د کلا د دېوال پخخه تراشله.

هماغه سرې وخندل:

_د ملک لالا لمسى ځوان شوى دى، له ډکې چايجوشې سره نيغ روان و.

تواب کلا ته ور ننوت، دوو کاريګرو په خټه کې غوايي ګرځول.

هلک توره چايجوشه پر غولي کېښوده. نيکه يې د لرګي پر زينه ولاړ و، لکنه يې په پخخه کې تر پرې شوې سورې ايستلې وه.

جُوجُو وويل:

_ملک لالا دې ولې لکنې ته سترګه پټه کړې ده، لکنه خو ټوپک نه دى؟

تواب د دېوال سيورې ته د خرې پر کته کېناست.

جُوجُو وويل:

_په دېوالونو کې يې دا سورې ولې پرېښې دي؟

_د دښمن له پاره.

_له چا سره بدي لرى؟

تواب خپله ککرۍ وګروله:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



_نه
ملک وخندل:
_ها زویه، چای دې راوړې؟
تواب ور وکتل، نیکه یې په احتیاط له زینې ښکته کېده.
تواب ورغی، ورو یې وویل:
_ملک لالا، موږ بدې دار یو؟
ملک په حیرانۍ ور وکتل:
_نه!
نو په دېوال کې دا سوري د څه له پاره دي؟
بوډا وخندل، د هلک پر سر یې لاس کېښود، ورو یې وویل:
_د ټربرونو له پاره.
روان شو، کاریګرو ته ور وګرځېد.
جُوجُو وویل:
_دا ټکی مې نوی واورېد، ټربرونه، ځناورو ته وایاست؟
_نه، د تره زامنو ته.
_نو هغوی ولې وژنئ؟
تواب خپل نیکه ته منډه ور واخیسته، هغه ته مخامخ ودرېد، په خواره خوله یې وویل:
_د تره زامن مې راباندې ګران دي، نه غواړم چې هغوی ووژنې.
لومړی ملک وخندل، بیا ناستو کاریګرو خندا ورسره بدرګه کړه.
یوه کاریګر وویل:
_هلک دی، ماغزه یې خام دي، نه پوهېږي.
تواب په حیرانۍ ورته کتل.
تر دېوال له عمره پوخ، ډنګر سړی راتاو شو، ږېره یې لنډه وه، غټې کځوړنې سترګې یې درلودې،
تر سپینې زړې خولۍ یې لانده وېښته راوتلي ول.
ملک په خندا وویل:
_اه، سرمالمه، راځه.
د تواب غوږ وتخنېد.
جُوجُو وویل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سړی مې د مکتب په اداره کې ولید.
تواب وویل:
ـ زموږ سر معلم دی.
معلمانو ته یې خشکې کولې، ویل یې چې یو هم د زړه له اخلاصه صنف ته نه ورځي.
جُوجُو غلی شو، یودم یې وویل:
ـ پوښتنه وکه!
ـ څه؟
ـ راته ووایه چې د معلمانو ځواب څه و؟
ـ ښه، ووایه!
ـ معلمان ټول په یوه خوله ول، پنځه زره افغانۍ یې کمې ګڼلې، ویل یې چې په دې تنخوا ستوني نه شو ورته خیرولای، خو د سرمعلم دلیل دا و چې دوی په زور نه دي راغلي، تنخوا مالومه ده، که یوه وي، که سل، دوی منلې، نو باید چې د زړه له اخلاصه درس ورکي.
تواب په خبره کې ورولوېد:
ـ قناعت یې وکړ؟
په اوږه یې چونډی ور ولګول شوه:
ـ وار راکه. د سرمعلم خبرې لا پاتې دي، ویل یې چې په دې مکتب کې ستاسو اولادونه هم درس وایي، د هغوی له پاره یو څه زحمت ومنئ، خو د معلمینو ځواب دا و چې له خپلو اولادونو سره په کور کې درس وایي. بس، سرمعلم ستړی شو، خو یوه هم قناعت ونه کړ.
د ملک خندا راغله:
ـ یاره سرمالمه، شپاړس کاله درس دې چتي راته ښکاره شو.
تواب ور وکتل، نیکه او سرمعلم د کوټو پر کېندل شوي تهداب راګرځېدل.
ملک په خندا وویل:
سرمالم نوې وکړه.
په کاریګرو کې یوه ور غږ کړل:
ـ څه وایي؟
ـ وایي چې نخشه مې خوښه شوه، خو په یوه کوټه کې د کتابونو د ایښودلو له پاره الماری ته هم ځای پرېږده.
پخځه تراش له پاسه ور غږ کړل:

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـکتابونه خو ده ویلي دي، څه خیر یې پکې وکه، زوړ شو ، خو نوې خولۍ یې ونه مونده.

ټولو وخندل.

جُوجُو وویل:

ـدا خبره په لیکلو ارزي، په دې وطن کې پوه سړی ناپوه دی او ناپوه هم عاقل.

* * *

د تواب غوږ وتخنید ، ځنګ یې بدل کړ، پزه یې کش شوه، سترګې یې رڼې کړې، جُوجُو پر بالښت ناست و.

تواب په خوبولي غږ وویل:

ـنیمه شپه ده.

جو جو بسترې ته ور ټوپ کړل، لاس یې پر دېوال کېښود ، کوټه سپینې رڼا ونیوله، ویې ویل:

ـنن مې یو څه ولیکل، درته وبه یې لولم.

تواب کېناست.

جُوجُو وویل:

ـمازیګر د غونډۍ د کلي په فصلونو کې ګرځېدم، یوه مرغی مې ولیده، د توت په ونه کې ناسته وه، نږدې ورغلم، په ستوني کې به یې سا راټوله کړه، د ټټر سرې، مړې ښکې به یې وپړسېدې، خوندور غږ به یې له ژیړې مښوکې راووت.

ډز شو ، مرغی والوته.

د ټوپک په غږ پسې ورغلم. له یوه کوره چیغې راتلې، پر دېوال ورته کېناستم، څو ښځو له یوه ځوانه ټوپک ووړ. خو ځوان زورونه وهل، بیا د یوې پیغلې له خولې وینو داره وکړه، ځوان د ټوپک پر کنداغ وهلې وه، نجلۍ ړنګه شوه، ځوان له کوره ووت، مخامخ دروازې ته یې ټوپک ونیو ، ټک، ټک، ټک... د کلا دروازه سوری، سوری شوه.

هماغه کورته مې ورټوپ کړل، هلته هم همدا حال و ، ښځو چیغې وهلې، یوه تنکي ځوان ټوپک پسې غوښت.

له جوماته ډله خلک راووتل، دروازې ته ولاړ ځوان یې په زور په خپل کور ننه ایست.

. له چا به مې پوښتنه کوله. بس، په باغ کې وېرېدلو چرګو ته ورغلم، یوه سره چرګه خپلو چرګوړو ته په غوسه وه، ویل یې چې له بنیاد مانو څه بلا غواړئ. کیسه را مالومه شوه، چرګوړي شنو غنمو

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ورګډ شوي ول، د پټي خاند د لوټو وارونه ورباندې کړي وو، خو په مقابل لوري ښه نه وه لګېدلې، ټوپک يې را اخيستی و. ټک، ټک، ټک.

چرګوړو ته مې وکتل، سرونه يې ځړېدلي وو، د پښو په تېرو نوکانو يې ځمکه کښندله.

جُوجُو غلی شو، تواب ته يې وکتل،ورو يې وويل:

_وړه موضوع وه، خبرې يې غوښتې. ټوپک ته حاجت نه و.

تواب وچې سترګې ورته نيولې وې...

جُوجُو وويل:

_له هغه ځايه دې خوا ته راتلم، خو په لاره کې يوې کلا ته ور وګرځېدم، د کلا د لويې دروازې تر مخ ډله ماشومانو مردکۍ کولې، ټول خېرن ول، د کميسونو غاړې يې برېښېدلې، خيرنې وې، ښويه خيرې. په چاودو ګوتو کې يې رنې مردکۍ ښې نه ښکارېدې.

بس، بل څه په خولو نه ورتلل، ستا مور... ستا خور...د خره بچيه... غالۍ دې وکړې.

سيوري ته ناستو لويانو هېڅ هم نه ورته ويل، خو تر دوی پيشو ښه وه، زوی يې د کادانې د بام پر سر ناست و، مور يې راغله، تور پيشنګوری يې په خوله کې ونيو، ويې ويل چې له بنيادمانو به څه زده کړي.

يوه شېبه کېناستم، لويانو يوازې د نسوارو په اړه خبرې سره کولې، يوه ته د نسوارو رنګ مهم و، بل ته يې نشه، اه، څومره بېغمه خلک.

جُوجُو غلی شو.

يودم د کلا دروازه وټکېده.

جُوجُو په بېړه پر دېوال لاس تېر کړ، رڼا ورکه شوه.

تواب له کوټې ووت، دروازې ته ودرېد، ويې ويل:

_څوک يې؟

د دروازې له شا وارخطا غږ راغی:

_زه يم، لال مامد.

له يوې کوټې بل څراغ راووت.

تواب دروازه خلاصه کړه، د څراغ رڼا په وارخطا سړي ولګېده.

سړی تر تواب مخکې شو، کلا ته ننوت، په خواره خوله يې وويل:

_باتوره، د خدای روی ومنه، د ښځو (هلکانو) مور مې په اولاد ناروغه ده، تر ښاره يې ورسوه.

د تواب پلار خپل کېن لاس د څراغ رڼا ته ورنږدې کړ، په خوبولي غږ يې وويل:

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـپه دې نيمه شپه به تر ښاره څنګه ځو ، د موټر دوه ساعته لاره ده.
سړي خواست کاوه.
باتور د موټر په کيلي پسې لاړ.
شېبه وروسته د موټر د چالانېدو غږ واورېدل شو ، پر مخامخ دېوال تېزه رڼا ولګېده، موټر له کلا ووت، لال مامد د موټر د څراغونو تر ژېړې رڼا مخکې منډې وهلې...
تواب دروازه پورې کړه، کوټې ته راغی، اوږد وغځېد ، د جُوجُو درک نه و.
د هلک سترګې سره ورغلې، يو وخت يې د موټر هارنونه واورېدل، د باندې ووت، ژېړه رڼا د کلا د لرګينې دروازې له چولو څخه راوتلې وه. تواب دروازه خلاصه کړه، موټر د کلا مينځ ته راغی،
تواب له پلاره د ناروغې مېرمنې پوښتنه وکړه، لنډ ځواب يې واورېد:
ـپه لاره کې مړه شوه.
هلک برج ته وخوت، د کلي له مينځه چيغې راتلې، په تنګو کوڅو کې بل څراغونه د لال مامد کور ته ور روان ول.

* * *

نيکه په غوسه و ، سپکې سپورې يې ويلې. تواب تر کړکۍ ور وکتل، د سهار خړه وه، نيکه په ډېران کې ګرځېده. هلک د باندې ور ووت، ښځې او نجوني په چوتره کې ولاړې وې،وارخطا ښکارېدلې.
بوډا په ګوتو کې نيولی کاغذ پورته ونيو ، په خشکه يې وويل:
ـزما کوټه چا جارو کړه؟
د تواب مشره خور د خپلې مور تر شا ودرېده.
نيکه چيغه کړه !
ـبلا ، وه بلا !
ډنګره ښځه مخکې ورغله:
ـڅه وايې، ملک لالا !
ـدا کاغذونه چا پر ډېران اچولي دي؟
ښځې چوترې ته وکتل، لور يې لړزې اخيستې وه.
ښځې په خواره خوله وويل:
ـملالۍ.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library


نیکه چیغه کړه !
ـدا سپی په دې نه پوهېږي چې د ځمکې اسناد دي؟
ښځه لړزېده.
نیکه وویل:
ـیوه بله پاڼه ام ورسره وه.
ښځې له چوترې راکښته شوې، ټولې په ډېران کې ګرځېدې، نیکه په غوسه کوټې ته ننوت.
د تواب اوږه درنه شوه، جُوجُو وویل:
ـد غواوو پښې وګوره !
تواب ورغی، پاڼه یې له لندو خوشایو راپورته کړه، لستونی یې پرې تېر کړ، کوټې ته ننوت. نیکه په غوسه و، تواب پاڼه بوډا ته ونیوله. په منډه له کوټې ووت.
تواب په چوتره کې کېناست، د لمر ژېړه وړانګه د مخامخ برج د بام له سرداوه په راوتلیو لرګو لګېدله.
یودم چیغې شوې، ملالۍ په منډه له دالانه راووته، ګیلاس یې تر سر تېر شو، د کوټې پر لویه شیشه ورغی، شیشه دړې وړې لاندې راولوېده.
تواب په بیړه دالان ته ورننوت، پلار یې په غوسه و، ښځو ته یې ښکنځلې کولې ویل یې چې ړندې دي، د جایداد کاغذونه هم نه پېژني.
تواب یوه شېبه په وره کې ودرېد، ښځې وارخطا وې، له تناره سرې لمبې راوتلې، په شکور کې د پرتو ذغالو پر سر تک تور مچان ناست ول.
هلک بېرته چوترې ته لاړ، د څنګ له کوټې د ملالۍ د ژړا غږ راتله، ورغی، خور یې کونج ته ناسته وه، اوښکې یې نه تم کېدې.
تواب کادانې ته لاړ، په دېوال کې ټومبلې لوی لور یې ور واخیست، له کلا ووت. کېنډلاس ته تاو شو، شنه فصلونه ول، سهارنې لمر د غنمو له شنو وږو ژېړه رڼا پورته کوله.
هلک شوتلې ته ودرېد، څو لوره یې ور واچول، غلی پر پوله کېناست.
د جُوجُو غږ یې واورېد:
ـها ! تندی دې سم ونیسه، خواشینی ښه نه ښکارې.
تواب ور وکتل، جُوجُو یې تر څنګ ناست و.
تواب وویل:
ـنیکه مې سهار له جوماته راته، د کلا د مینځ په ډېران یې د ځمکې قواله موندلې وه.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



جُوجُو په خبره کې ور ولوېد:

_پوهېږم.

تواب په غوسه وویل:

_خور مې غټه نجلۍ ده، خو تر اوسه لا د کار کاغذونه نه پېژني.

یوه سپینه جنت کوکۍ راغله، د جُوجُو پر رڼه ککرۍ کېناسته، جُوجُو وخندل:

_کوټ، کوټ، کوټ... مه مې تخنوه.

جنت کوکۍ والوته، جُوجُو، هلک ته وکتل، ورو يې وویل:

_ښه، نو ته د کاغذونو په ارزښت پوهېږې؟

تواب غلی و.

جُوجُو وویل:

بیګا د لال مامد مېرمن مړه شوه، سهار دې خور د ځمکې قواله جارو کړه. ولې؟

تواب په حیرانۍ ورته کتل.

جُوجُو وویل:

_که تا مکتب نه وای ویلی، ډاډه یم، د ځمکې له قوالو به دې کاغذي کیشتۍ جوړولې.

تواب غلی و.

جُوجُو وویل:

_په ټوله ولسوالۍ کې یوازې یو مکتب دی، هغه هم د هلکانو له پاره، نو خوارکۍ نجونې څه ملامتې دي، هره ورځ کوټې جارو کوي، په کوم کاغذ پسې به ګرځي چې د کار دی که بېکاره. که همدې نجونو مکتب ویلی وای، نو په سیمه کې به مو ډاکټره درلودی، د لال مامد ښځه به يې ولې نیمه شپه په خامو لارو تر ښاره وړله.

تواب ولاړ شو. لور يې ور واخیست، یوه پنډه شوتله يې وربېله. کور ته لاړ، شوتله يې په اخوره کې واچوله، په چوتره کې دسترخوان ته کېناست.

نیکه ته يې وکتل، لا يې ټنډه تروه وه. غوږ يې وتخنېد، جُوجُو وویل:

_بوډا ته وو ایه چې په سیمه کې مو ولې د نجونو مکتب نشته؟

تواب جټکه وخوړه، له چایو ډک ګیلاس کوږ شو. پلار يې په غوسه وویل:

_پام!!!

تواب وویل:

_نه شم کولای.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډا په حیرانۍ ورته وکتل.
تواب په منډه کوټې ته ننوت. جُوجُو پر بستره ناست و.
تواب په غوسه وويل:
_نه شم کولای. نیکه ته کاوړ (غوسه) ورځي.
جُوجُو په خبره کې ورولوېد:
_خو زه باید ورباندې پوه شم.
_نن جومه ده، مکتب ته نه ځم، نیکه د چیلم د ځکولو په وخت کې خشکې نه کوي.
ساعت ووت، د لمر ژېړه وړانګه د کوټې د یوائینۍ دریڅې پورتنۍ برخه روښانه کړه.
تواب وويل:
_اوس یې وخت دی.
د باندې ووت، نیکه په چوتره کې یوازې ناست و، له خولې یې خړ لوګی راووت.
تواب غلی کېناست. بوډا ور ونه کتل. د هلک پر اوږه چونډۍ ولګول شوه. تواب وويل:
_ملک لالا! دلته ولې د نجونو مکتب نشته؟
بوډا یو دم وټوخل، په ټوخي کې خندا ورغله:
_خوب دې لیدلی!
_نه، یوازې یوه پوښتنه وه.
بوډا چیغه کړه!
_بلا، وه بلا! ساده چاې دې پسې څه کړ؟
له دالانه ښځینه غږ راغی.
_تیار دی، اوس یې دروړم.
نیکه وويل:
_ګوره بچو، په داسې چټیاټو دې سر مه خرابوه.
تواب په رېږدیدلي غږ وويل:
_که ملالۍ مکتب ویلی وای، نو د ځمکې کاغذونه به یې پر ډېران نه اچول.
د بوډا د تندي ګونځې ژورې شوې:
_زه د هلکانو مکتب نه غواړم، ته د نجونو د مکتب کیسې راته کوې. ورک شه!!!
تواب په منډه کوټې ته ننوت.
جُوجُو وويل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ وبخښه.
تواب پر تړلې بسترې کېناست.
جُوجُو وويل:
ـ مور دې بلا نومېږي؟
تواب په حيرانۍ ورته وکتل.
ـ نه
ـ نو نوم يې څه دی؟
د تواب تندی تريو شو:
ـ نه شم ويلای.
ـ ولې؟
تواب غولي ته کتل....
جُوجُو وويل:
ـ يوه ټکي ته مې پام شو، وړې نجونې نومونه لري، زرمينه، طاهره، ملالۍ...خو چې غټې شوه او واده يې وکړ، بيا يې نوم بدلېږي. تورسرې، سياسره، کډه، عاجزه، د حيوانانو مور، بلا ... دا ولې؟
تواب په غوسه وويل:
ـ دا مه راته وايه چې له نيکه و پوښته.
جُوجُو وخندل:
ـ اه، ګرانه! سپکه مې نه در باندې لورېږي، خو که درباندې پوه شم، بده به نه وي.
تواب فکر يووړ، يو دم يې وويل:
ـ راځه.
هلک د باندې ووت، د کلا دروازې ته ورغی، شنه فصلونه ولاړ ول، د دهقان کوچني زوی د پيازو له نريو ډکو څخه وابنه ليرې کول.
تواب پر پوله ورته کېناست، د ځان په منګ هلک ته يې وويل:
ـ پلار دې څه نومېږي؟
هلک وخندل:
ـ نوي خو نه يو راغلي، باز مير.
ـ ښه نو، د مور نوم دې څه دی؟
هلک يو دم ولاړ شو، تواب يې تر ګرېوانه ونيو، دواړه له اوبو ډک لښتي ته ولوېدل.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



بازمير راغى، خپل زوى يې له وليو ونيو، خو هغه زورونه وهل، په هوا کې يې ترلې سوکان تاوېدل.
تواب له اوبو پورته شو، پر خوله يې لستوڼى تېر کړ، وينې وه.
د بازمير زوى په دوه ـ دوه کېده، زورونه يې وهل...
وخت ووت، جنګ سوړ شو، بازمير د شخړې علت وپوښت، زوى يې وويل چې زما د مور نوم يې غوښت.
سړي ته غوسه ورغله، تواب ته يې وکتل، په کاوړ يې وويل:
ـ ته بد اخلاقه يې، نيکه ته دې وايم.
تواب روان شو، نېغ کور ته لاړ، د مکتب کتابونه يې راوپلټل.
جُوجُو وويل:
ـ پزه دې هم وينې ده.
تواب په دېوال کې ټومبلې وړې اينې ته ودرېد، د مور ټکرى يې پر پزه تېر کړ، بېرته په خپل ځاى کېناست.
جُوجُو وخندل:
ـ نو ته بد اخلاقه يې؟
هلک په غوسه ور وکتل.
جُوجُو وويل:
ـ ټوکه وه.
تواب يو کتاب ور واخيست.
جُوجُو وويل:
ـ ښه نو، د ښځې د نوم اخيستل بد اخلاقي ده!
تواب په خبره کې ورولوېد:
ـ نه پوهېږم، خو دوى يې شرم ګڼي.
د کلا دروازه وټکېده، تواب ورغى، سرمعلم ولاړ و، ملک يې غوښت.
هلک د نيکه د کوټې خوا ته منډه کړه، نه و، دالان ته ورغى، له موره يې پوښتنه وکړه، بېرته لويې دروازې ته ور نږدې شو، سړى يې وپوهاوه چې نيکه په کور کې نشته.
سرمعلم ګام واخيست، خو تواب يې تر مخ ودرېد، سر يې وځړېد، ورو يې وويل:

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ نیکه مې مور ته بلا وايي، پلار مې د سیاسرې نوم ورباندې ایښی، تره مې خپله ښځه عاجزه بولي. دا ولې؟
سرمعلم وخندل:
ـ په اصلي نومونو یې شرمېږي.
تواب وویل:
ـ په رښتیا هم، شرم دی؟
سرې د تواب پر سر لاس ور تېر کړ، ورو یې وویل:
ـ زموږ د پیغمبر مور بي بي امنه نومېده، مېرمن یې بي بي خدیجه وه، لورېې هم بي بي فاطمه. که شرم وای بیا مو په همدې نومونو نه یادولې.
سرمعلم روان شو، تواب یوه شېبه د دېوال سیورې ته کېناست، د نوې کلا پخځه د کلي له ټولو کورونو لوړه وه، خو لا هم ختې پرې تپل کېدې، ورهاخوا د غره پر څوکه، د سپینو واورو سېکه لا نه وه ختلې.

* * *

تواب تر پړې لاس تاو کړ، د څاه د څرخ غنجا شوه، ډکه بوکه راوختله، جُوجُو د رڼو اوبو پر سر ناست و.
تواب په بیړه وویل:
ـ په څاه کې دې څه کول؟
جُوجُو ټوپ کړل، د هلک پر اوږه کېناست:
ـ له څونګښې مې مالومات غوښتل، ژوند یې سخت و، په تیاره کې اوسېده، خو شکایت یې نه درلود، ویل یې چې ښه ده، انسانان نه وینم.
تواب ډکه بوکه په سطل کې تشه کړه، سطل یې کوچني سخوندر ته کېښود.
جُوجُو وویل:
ـ ښه یې نه ساتې. ورته وګوره، وربوز یې له اوبو نه پورته کېږي.
تواب په بیړه وویل:
ـ پلار مې.
جُوجُو ورک شو.
باتور په چوتره کې ودرېد، په زوټه یې وویل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مېلمنو د کوټې کونجي (کيلي) راوړئ!!
ډنګره ښځه په بيړه له کوټې راووته. په سره سپنسي کې پېيلې کونجي يې سړي ته ونيوله.
باتور له کلا ووت.
تواب ګړندي ګامونه واخيستل، د مېلمنو کوټه د کلا په دېوال پورې نښتې وه. هلک کوټې ته ور ننوت، نيکه د اوږدې کوټې په بر سر کې ناست و، له مېلمه سره يې خبرې کولې.
تواب سړي ته لاس ورکړ، وره ته نږدې کېناست. مېلمه ته يې وکتل، تياره وه، څېره يې ړنګه ښکارېدله. پلار يې راغی، د ګاز پر ډبې پورې تړلې جالی ته يې اورلګيت ونيو، له فشس سره پر سړي ژېړه رڼا ولوېده. مېلمه له عمره پوخ و، ول ول خيرنه لونګی يې تړلې وه، د تورې پزې پر پلنه څوکه يې د کالداني داغ ښکارېده.
د تواب زړه تنګ شو، کور ته لاړ، مور يې پر نغري د بخار د ډېګ ابېښی و، لندو بوټو خوله نه اخيسته، ښځه په لوګي کې پټه وه.
تواب د تراکتور ټيلې ته ورغی، ګېلنه يې راپورته کړه، بېرته نغري ته راغی، ګيلنه يې کړه کړه، تر بوټو شنه لمبه راتاوه شوه.
تواب خپلې مور ته وکتل، په سترګو کې يې د ډېګدان لمبه ښکارېدله.
تواب يوه شېبه ودرېد، بيا يې په سر کې خړېکه شوه، نری درد يې تر تندي پورې راغی، کوټې ته لاړ، اوږد پرېووت.
وخت ووت. له چوترې يې د پلار غږ راغی، د تواب پوښتنه يې کوله. تواب دالان ته ننووت، بدنۍ او چلمچي تيار ول. نېغ د مېلمنو کوټې ته لاړ، د مېلمه له لاسونو خړې اوبه تويې شوې.
پر دسترخوان د لندې ډوډۍ دوې کاسې کېښودل شوې. تواب وره ته نږدې کېناست. مېلمه ته يې وکتل، له هرې ګولې وروسته به يې د لاس يوه يوه ګوته څټله، د غوښې وار شو، د تواب تره پر يوه هوار پاستي، غوښه په څلورو برخو تقسيم کړه، مېلمه ته يې وکتل:
ــ ستا يې تر څو؟
مېلمه په ډکه خوله وويل:
ــ تر لسو.
سړي له يوه سره حساب پيل کړ، يو، دوه، درې.... ده به په هره برخه غوښه خپله ګوته ايښوده، لسمه شمېره پر يوه غوړه برخه راغله، هماغه برخه غوښه يې د مېلمه تر مخ کېښوده. پاتې برخې هم په همدې توګه تقسيم شوې. ښه شېبه ووته، ژامې خوځېدلې. تواب د خپل پلار غږ واورېد:
ــ درغله.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور ويې کتل، مېلمه ته يې يوه غټه ګوله نيولې وه.
مېلمه وويل:
ـبس دی، نه يې شم خوړلی. خو د باتور لاس هماغسې په هوا کې پاتې و، مېلمه ګوله ور واخيسته.
د تواب تره هم په پاستې کې غوښه ونغاړله، غټه ګوله يې ترې جوړه کړه، مېلمه نه خوړله، خو د تواب تره ټينګار کاوه چې د پسه لم دی. سړی مجبور شو. ملک هم په زور سپينه غوښه وربانده وخوړه.
د تواب اوږه درنه شوه، جُوجُو وويل:
ـمېلمه يې په ډېره غوښه مړ کړ.
تواب په ټيټ غږ وويل:
ـدا زموږ رواج دی، د مېلمه عزت کوو.
شېبه وروسته دسترخوان ټول شو، تواب د لاس اوبه ور واچولې، بيا په چايو پسې لاړ، کله چې بېرته راغی، مېلمه په خوند يوه کيسه را اخيستې وه:
ـياره ملکه اجب سوډر شی و، د کلاشينکوف دوه ګولۍ يې خوړلې وې، خو بيا يې هم چاړې ته ځان نه ورکاوه.
ملک په خبره کې ور ولوېد:
ـڅنګه دې ومونده؟
سړي په خوند وويل:
ـبس، چا راته وويل چې د بدي دار ورور دې ځنګله ته وتلی، ما هم کلاشينکوف را واخيست، يوه دره مې پسې وغوښته، خو پيدا مې نه کړ، بيا خدای مهربانه شو،د تبر غږ راغی، ورغلم، د يوې څېرۍ له تنې مې ور وکتل، شريف يوې وچې ونې ته تبر نيولی و. بس، همالته ورته پرېوتم، د کلاشينکوف زخه مې ورته سيخه کړه، ټک، ټک، سړی بوځ را واوښت. منډه مې ور واخيسته، په ګېډه کې لګېدلی و، خو لا يې هم چاړې ته ځان نه ورکاوه، په ډېر زامت مې ستونی ور پرې کړ.
د تواب اوږه درنه شوه.
جُوجُو وويل:
ـولې؟
تواب په خبره کې ورولوېد:
ـنه پوهېږم.
نيکه وخندل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ یاره عبدالرحیمه ، نر کار دې کړی، زمری یې، زمری.
مېلمه په خوند وویل:
ـ اوس به ګلاب شاه ته مالومه شوې وي چې بدې څه ته وایي !
نیکه په خبره کې ور ولوېد:
ـ ګلاب شاه دې ونه موند ؟
ـ نه په خدای، چا ویل چې ایران ته تښتېدلی. بس، په کومه ورځ چې یې زما ورور را وویشت، له هماغه ساته ورک دی. خو ښه شو ، ما یې هم د ورور ستونی ور پرې کړ، خلاص په خلاص.
د نیکه خندا پورته شوه:
ـ یاره عبرالرحیمه ، زمری یې زمری.
جُوجُو وویل:
ـ زمری څه ته وایي؟
تواب وویل:
ـ یو حیوان دی.
ـ نو مېلمه ولې د دې نوم په اورېدو وپړسېد ؟ حتما به کوم ښایسته حیوان وي.
ـ نه، زموږ د مکتب په کتاب کې یې عکس شته. ببره ، بد شکله څېره لري.
جُوجُو وویل:
ـ ته به نه یې خبر، بوی به یې ښه وي؟
ـ که داسې وای، نو پر خوله او پزه به یې مچان نه راټولېدای.
ـ هوښیار به وي؟
ـ نه، یوازې په ښکار کې پیاوړی دی، نور ژوندي ساري وژني.
جُوجُو وویل:
ـ بیا خو دې نیکه سم ورته وایي، مېلمه په رښتیا هم زمری دی.
د نیکه غږ راغی:
ـ وه هلکه، څنګه لکه مچ له ځان سره بنګېږې؟
تواب وارخطا شو:
ـ هېڅ ، هېڅ.
په منډه د باندې ووت، کلا ته ننوت، په چوتره کې غلی کېناست. چو په چوپتیا وه، پورته په رڼو ستورو کې د طیارې سور څراغ مړ او بل کېده.

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



جُوجُو وويل:
ـ ښه نو، زمرى مو د غيرت ننبه ده؟
هلک غلى و.
جُوجُو وويل:
ـ په تاسو کې قتل څومره اسانه دى.
هلک په خبره کې ور ولوېد:
ـ خپل وار (بدل) يې واخيست.
جُوجُو وويل:
ـ قتل ګلاب شاه کړى و، ورور يې څه ګناه درلوده؟
تواب په خبره کې ور ولوېد:
ـ سر دې مه خرابوه، دلته سل کلنې بدۍ پاتې دي، مړي نيکه کړي وي، غچ يې له لمسيانو اخلي.
ناڅاپه ډزې شوې، دوې، درې دقيقې پرله پسې ډزې. تواب له چوترې ټوپ کړل، په منډه له کلا ووت، نيکه او د تواب پلار هم د باندې ول، د مېلمه درک نه و.
نيکه په بيړه وويل:
ـ توابه زويه، له مېلمه سره پاتې شه.
تواب کوټې ته ننوت، مېلمه د ېوال ته غلى ناست و، وارخطا ښکارېده، وروسته يې د ګاز ډبې ته لاس ور وغځاوه، تياره شوه.
تواب وويل:
ـ ډزې په کلي کې دي.
د مېلمه وارخطا غږ يې واورېد:
ـ تا ته د بدۍ زور نه دى مالوم.
د ښځو چيغې شوې، تواب کړکۍ خلاصه کړه، د کلي له مينځه کوکې راتلې.
تواب وويل:
ـ مه وېرېږه، په تا پسې نه دي راغلى.
ځواب يې وانه ورېد.
تواب د باندې ووت، په کوڅو کې بل څراغونه ګرځېدل. مخکې لاړ، د کلي مينځ ته ورسېد، خلک راټول ول.

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



تواب اخوره ته وخوت، پر یو چا سپین څادر هوار و، د څادر یوه برخه په وینو سره وه. له ځنګلوري کوره د ښځو کوکې راتلې.

* * *

د تواب اوږه په شدت وخوځېده. نیغ کېناست، سترګې یې وموښلې، جُوجُو و، تواب په بیړه وویل:

ـدا دوې ورځې چېرته وې؟

جُوجُو په خبره کې ورولوېد:

ـهله ! تنور وګوره !

تواب په حیرانۍ ورته وکتل.

جُوجُو وویل:

ـپه لښتو او خوشایو کې د دهشکې مرمۍ پرته ده.

هلک ولاړ شو، دالان ته یې منډه کړه، د خپلې مور له لاسه یې اورلګېت ونیو، تېټ شو، له تناره یې لښتې راوایستې، د دهشکې په ژېړه مرمۍ کې د بیګاني انګار سره رڼا ښکارېدله. هلک توده مرمۍ د تناره پر غاړه کېښوده. ښځو ته یې وکتل، د ټولو سترګې رډې راختلې وې.

خور یې چیغه کړه !

ـدا ټول ستا له لاسه.

تواب په خبره کې ور ولوېد:

ـچټیاټ مه وایه !

مور یې وویل:

ـته باید خطرناکه شیان په لښتو کې پټ نه کړې.

د تواب تندی تریو شو:

ـزه نه وم خبر.

خور یې وویل:

ـنو پېریانو احوال درته راووړ چې په تناره کې مرمۍ ده؟

تواب په منډه له دالانه ووت.

جُوجُو وویل:

ـاه ! په دې شنه سهار مې د خولې خوند در بد کړ.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلک اوږد وغځېد.
جُوجُو وويل:
_پوهېږم، بېځايه يې ملامت کړې، څه چې وينو، ډېر وخت رښتيا نه وي.
هلک چت ته کتل.
د جُوجُو غږ يې واورېد:
_اوس به ستا د پوښتنې ځواب درکړم، په سفينه کې يوه تخنيکي ستونزه پيدا شوې وه، يوه ورځ يې کار وغوښت، بله ورځ ځو کليو ته په تحقيق پسې لاړم.
تواب هماغسې غلی و.
جُوجُو وويل:
_تندی دې سم ونيسه، خوشاله اوسه چې اور يې نه و بل کړی.
له چوترې د نيکه غږ راغی:
_بلا ، وه بلا ! د اوداسه اوبه راوړه.
جُوجُو وويل:
_هو رښتيا ! هغه سړی يې ولې ستا سو په کلي کې وويشت؟
_دلته يې د ترور کور دی، مېلمه راغلی و. راتلونکې جومه يې مرکه ده.
جُوجُو وويل:
پوه نه شوم؟
_له شاوخوا کليو سپين ږيرې راټولېږي، غواړي چې دا دښمني ختمه کړي.
د جُوجُو سترګه وځلېده:
_ښه کار دی، خو دوی بايد له اوله د پېښې مخه نيولې وای، اوس به ولې مړی کېده. پټېيو ته د چرګوړو د اوښتو او له ډزو را وروسته دواړې خواوې ځړېدلې شونډې ګرځېدې، خو هېچا هم سر پسې ونه ګرځاوه.
هلک ته غوسه ورغله:
_تاته هېڅ هم سم نه ښکاري.
جُوجُو وويل:
_اه ! تر اوسه خو سم نه شم ورته ويلای، خو دې مرکې تمه راته پيدا کړه، ليکم يې، د دښمنيو حل ښه خبره ده.
جُوجُو غلی شو، يو دم يې پر د ېوال لاس تېر کړ، ورو يې وويل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـځينې خبرې مې راټولې کړې دي. لومړی به د شيرو د کلا کيسه را واخلم. ځو سپين ږيري د اخورونو پر سر ناست ول، زړې کيسې يې را اخيستې وې، توره، پټکی او شملې يې يادولې، ځانونه يې د دنيا تر ټولو خلکو غيرتي بلل.

تواب په خبره کې ور ولوېد:

ـنو ته يې نه منې؟

جُوجُو وويل:

ـاه ګرانه، زما خبرې لا نه دي خلاصې.

تواب بکس ته لاس ور وغځاوه، يو کتاب يې را ويست، پاڼې يې واړولې، په غوسه يې وويل:

ـدا زموږ تاريخ دی، ورته وګوره، ځو وارې مو هندوستان نيولی، د ايران تر اصفهانه رسېدلي يو، د افتخار خبره يې نه بولې؟

جُوجُو وويل:

ـزه به د خپلو خلکو يوه کيسه درته وکړم، موږ خوراک نه لرو، بس، په کال کې يوازې يوه شنه پاڼه خورو، دې ته د فکر پاڼه وايي، که يې ځوک ونه خوري، نو ماغزه يې جام پاتې کېږي او هېڅ هم نه شي کولای، خو د دې پاڼې پيدا کول دومره اسانه خبره نه ده، بل ستوري ته به پسې ځې، هلته شيشې ته ورته بوټي دي چې موږ يې نه شو ليدلی، دا بوټي مو يو دم تر ځان راتاوېږي، بس! د ژوند تر پايه نه شو ترې خلاصېدی. زموږ د ستوري ځوان موجودات په دغه بوټي پسې ځي، خطر ويني، خو د نورو له پاره قرباني ورکوي، دوی بايد د ستوري ورو، زړو موجوداتو ته دا پاڼه راوړي.

يوه ورځ مې پلار خواشينی ناست و، علت مې وپوښت، را ياده يې کړه چې اور اخيستلو ته يې لنډ وخت پاتې دی، خو تر اوسه يې د فکر پاڼه نه ده راوړې، ومې ويل چې د نيکه مېړانه درته بس ده، نيکه د ستوري په ټولو موجوداتو کې نوم لري، ده په خپل ژوند کې زر پاڼې راوړې، زر پاڼې! تر اوسه يو موجود هم د دومره پاڼو په راوړلو نه دی توانېدلی. پلار مې لنډه را ياده کړه چې نيکه ته درناوی لرم، خو زه هم (زه) يم، ما د خپلو همجنسو له پاره هېڅ هم نه دي کړي، بس، يو مصرفي موجود يم چې تل مې د نورو پاڼو ته سترګې نيولې دي.

جُوجُو غلی شو، سترګه يې وځلېده او ويې ويل:

ـګرانه! په تېرو وياړ بنه دی، خو تاسو راتلونکو ته څه پرېښې؟ اوسني هم بايد يو څه وکړي.

تواب غلی و.

جُوجُو بکس ته وکتل، بکس له ځمکې پورته شو او د هلک سترګو ته ودرېد، جُوجُو وويل:

ـورته وګوره! د پاکستان نوم ورباندې ليکل شوی دی.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



تواب په حيرانی ورته کتل.
جُوجُو وويل:
ـډاډه يم، واسکټ او جامې دې هم له پاکستانه راغلې دي، پيالې ته وګوره، د ايران ټاپه ورباندې ښکاري، د پلار، نيکه ترلي ژېړ پاجونه (هندوستانۍ پګړۍ) چې د غيرت نښې يې ګڼې، هم د نورو دي، ان ستن او تار هم نه شي جوړولای، تاسو د کلي تر ټولو شتمن ياست، خو لا اوس هم ډوډۍ په خوشايو پخوئ.
تواب غلی و.
جُوجُو وويل:
ـد بشر د هوسايني له پاره مو څه کړي دي؟ هېڅ! بالعکس، تل په نورو متکي ياست. که يوه ورځ سرحد درباندې بند شي، له لوږې به مړه ياست.
هلک غلی و.
جُوجُو وويل:
ـپاتې کيسه واوره، سپين ږيري لا په غيرت کې غرېدل چې يوې زړې ښځې يو نهه ـ لس کلن ماشوم راووست، ماشوم ګېډې ته لاس نيولی و او له درده يې ټوپونه وهل، يوه سپين ږيري د خپلې خولې لاړې د ماشوم په خوله کې ور وڅڅولې، ماشوم بېسده پرېووت، بوډۍ دعاوې کولې، ويل يې چې له پرونه را ايسته يې داسې کرار نه و لېدلی، څو ځوانان راغلل او ماشوم يې ځنځولې نږدې کور ته ورساوه.
يوه بل بوډا بيا د خوب کيسه تېره کړه، ويل يې چې غم مه کوئ، بېګامې خوب ليدلی، په وطن کې به فقر، جګړې او ټولې بدبختۍ ختمې شي.
د بوډا د خوب کيسه لا نه وه خلاصه چې له نږدې کوره د ښځو کوکې راووتې، هلک مړ و.
جُوجُو غلی شو، تواب په حيرانۍ ورته کتل...
جُوجُو وويل:
ـاه ګرانه! په اټکلي ژوند، غټو غټو خبرو، لاړو او خوبونو وطن نه جوړېږي.
له چوترې د نيکه غږ راغی:
ـبلا! وه بلا! ړنده يې! بيا دې ساده چای راوړی.
تواب په بيړه جُوجُو ته وکتل.
جُوجُو وويل:
ـما څه نه دي کړي.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * *

تواب په خاورو کې پلتۍ ووهلې، زنګون یې دروند شو، په بیړه په پښو ودرېد، لاړ، له نورو هلکانو ګوښې کېناست.

جُوجُو وویل:

ـ ته ولې لوبه نه کوې؟

تواب مخامخ ګوته ونیوله:

ـ هاغه مو سر ټیم دی، وایي چې زموږ د کلي رنګ مه بدوه، ښه کوټبال (فوټبال) نه شې کولی.

ـ کوم یو؟

ـ په دفاع کې ولاړ هلک، هغه چې لوړه ونه لري.

ـ خو د ګول وهونکو خونده مو نشته، ستاسو کلیوالو تر اوسه دوه ـ صفر بایللې ده.

تواب غلی و.

جُوجُو وویل:

ـ هغه د خړ پرتاګه وال سمه لوبه نه کوي، خوښه دې نه ده چې ته ورګډ شې؟

تواب سوړ اسویلی وایست:

ـ تر ما تکړه دی. که داسې نه وای، نو زه به یې هم په مسابقه کې نیولم.

ـ اه! تمه دې مه باسه.

ـ څنګه؟

د جُوجُو غږ یې وانهورېد. یو دم د خړ پرتاګه هلک چیغه کړه، منډه یې واخیستله، په بیړه له میدانه ووت او په خاورو کې کېناست. توپ ودرېد، هلکان پرې راټول شول، تواب هم ورغی، د هلک رنګ سپین اوښتی و، یوه خبره یې تکراروله:

ـ پیری!!!

تواب څنګ ته ودرېد، جُوجُو وویل:

ـ تندی دې سم ونیسه، بس! پر اوږه یې ور کېناستم، له پزې مې کش کړ، نور مې هېڅ هم نه دي کړي.

یوه هلک وخندل:

ـ مات یاست، بانې کوئ.

په ونه لوړ هلک ته غوسه ورغله!

ـ له خولې سره دې پام کوه، لوبه نه پرېږدو.



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته يې په خاورو کې ناست هلک ته وکتل:
ـ راځه ! لس دقيقې وخت لا پاتې دی.
هلک ځای پر ځای ناست و.
په ونه لوړ هلک وويل:
ـ پروا نه کوي،. په لسو نفرو هم توپ کولای شو.
د تواب په غوږ چونډۍ ولګول شوه، جُوجُو وويل:
ـ ور مخته شه.
تواب د نري هلک مخې ته ودرېد:
ـ ما نيسئ؟
هلک د (هو ) په بڼه سر وخوځاوه. تواب لوڅې پښې ميدان ته ور ګډ شو. يوه شېبه يې منډې ووهلې، خو توپ يې پښې ته نه سيخېده. اوږه يې درنه شوه، جُوجُو وويل:
ـ ګول ته ور نږدې شه.
تواب د مقابل لوري له دفاع سره ودرېد. توپ هوايي راغی، په دفاع کې ولاړ چاغ هلک منډه ور واخيسته، توپ ته يې سر ورکړ، خو توپ يو دم لوړ شو او د تواب پښو ته ولوېد ، تواب د خپلې ښۍ پښې بټه ګوته ورته سيخه کړه او توپ د ګولچي له اوږې سره ښويه تېر شو. يو دم چيغې شوې، ميدان نارو او چکچکو پر سر واخيست. شېبه وروسته بل توپ د تواب پښو ته ولوېد ، چاغ هلک منډه پرې را واخيسته، يو دم يې ټوډه ووهله، پړ مخې پرېووت. تواب توپ په لغته وواهه، توپ تېز نه و ، خو ګولچي حرکت ونه کړ، توپ په رغړېدا له دروازې ووت. چکچکو ، نارو او شپېلاقونو زور واخيست. ګولچي چيغې وهلې، قسمونه يې خوړل چې کوم چا تر پښې ټېنګ نيولی و ، چاغ هلک هم همدا يوه خبره را اخيستې وه، ويل يې چې تواب پښه ورته کېښوده، خو نورو ور پورې خندل.
لوبه مساوي ختمه شوه، تواب د کلي هلکانو پر اوږو واخيست، پر ټول ميدان يې راوګرځاوه، تر کلي پورې هم د تواب صفتونه اورېدل کېدل.
تواب نيغ جومات ته لاړ، د ماښام لمونځ يې په ملا پسې وکړ، بيا يې کور ته مخه کړه چوترې ته وخوت، غوږ يې ونيو، له يوې کوټې د ژړا نرۍ غږ راته. ورغی، د تره پېغلې لور يې ژړل، د خولې له کونجه يې د وينو نرۍ سره ليکه را ماته وه. تواب د هغې تر څنګ کېناست، يوه شېبه غلی و ، بيا يې ورو وويل:
څه شوي؟

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نجلۍ ژړا زور ونيو.
له چوترې څخه يې د تره چيغه راغله !
ـدا سپي مه راباندې وژنه ! مېږه غواړې.
وارخطا ښځه کوټې ته راننوته، د نجلۍ پر خوله يې لاس کېښود ، په رېږدېدلي غږ يې وويل:
ـد خدای روی ومنه ! غلې شه، که دې نيکه خبر شو ، خدايکه د ژوند څکه ورنه وکړې.
تواب وويل:
ـتره ناوې ! څه خبره ده؟
ځواب يې وانهورېد.
تواب د باندې ووت، مور يې غوا لوشله، ورغی، پر اخوره کېناست. ورو يې وويل:
ـهيلۍ يې ولې وهلې؟
ښځه غلې وه، نږدې تړلي خوسکی د غوا د غولانځې خواته زورونه وهل، د دېګ په تل باندې د شيدو د دارو د لګېدو غږ اورېدل کېده.
تواب وويل:
ـادي ! زما خبره دې وانه ورېده !
ښځې ورو وويل:
ـڅه يې کوې، خوارکی يې له اخه ټوخه واچوله.
ـولې؟
ـهيلۍ له کارېزه اوبه راوړې، په لاره کې کوم ترې ځوان مساپر اوبه ترې غوښتې وې، دا خبره يې ورې خور پلار ته وکړه، بس ! ! ! غم ترې جوړ شو.
غوا وځوځېده، ښځې په بېړه له لندو خوشايو خپلې پايڅې ور ټولې کړې، په غوسه يې وويل:
ـمرداره شې ! کالي دې را بې نمازه کړل.
تواب ته يې وکتل، ورو يې وويل:
ـد شيدو خونده يې نشته، خوسکی ور پرېږده !
تواب ټيټ شو ، پړي ته يې لاس کړ، خوسکی تر غوا لاندې ووت.
ښځه دالان ته لاړه.

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * *

د تواب غوږ وتخنېد، نېغ کېناست. جُوجُو و. هلک په خوبولي غږ وويل:

ـ دا نیمه شپه ګوره!

جُوجُو تر لاس ونيو:

ـ راځه!

تواب په حیرانۍ وويل:

ـ چېرته؟

ـ وروسته به پوه شې.

تواب د باندې ووت، د کلا د برج پر سر ګرده سپوږمۍ ولاړه وه. د هلک سترګو ته د بتې ګوتې په اندازه سپینه رڼا ودرېده، د جُوجُو غږ يې واورېد:

ـ زه يم، په ما پسې راځه!

رڼا حرکت وکړ، تر ځمکې يو ګز پورته روانه وه، تواب ګامونه پسې واخيستل. د کلا دروازې ته ودرېد، حيران شو، دروازه خلاصه وه. تواب د باندې ووت، رڼا د کلي په تنګو کوڅو کې مخته تله، له يوه کوره د ځنځير شرنګ او د سپي غپېدا راغله.

تواب ورو وويل:

ـ چېرته ځو؟

ځواب يې وانه ورېد. دی تر کلي ووت. رڼا د غنمو د شنو وږو پر سر روانه وه، بيا د ګڼو نيالګيو په پاڼو کې ننوته. تواب ګړندی شو، د نيالګيو په مېنځ کې يې لار وايسته، مخامخ يې وکتل، اوږه يې درنه شوه، ور مېږ يې کوږ کړ، رڼا يې پر اوږه پرته وه. تواب په بېړه وويل:

ـ زه بېرته ګرځم.

د جُوجُو غږ يې واورېد:

ـ زړه دې، خو په خبرېدو ارزي.

ـ نو چېرته ځو؟

رڼا پورته شوه، دښته يې په مخه ورکړه، تواب ګامونه ګړندي کړل. پاو ووت، رپانده جنډو ته ودرېد. رڼا بېرته راوګرځېده.

تواب وويل:

ـ هديره ده، وبرېږم.

جُوجُو په خبره کې ور ولوېد:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ اه ګرانه ! له ژوند یو وو بربره.
ـ خو تر هدیرې ور هاخوا پردی کلی دی، په دې نیمه شپه کې هلته څه کوو ؟
رڼا پر قبرونو د را شنو شویو شنو سپاندو او ځوځو پر سر تېره شوه، تواب مخکې لاړ، د سپوږمۍ رڼا د کورونو پر خړو دېوالونو لګېدله. رڼا یو دم ورکه شوه، هلک ورغی، په ګڼو نیالګیو کې یې د جُوجُو غږ واورېد:
ـ د بخواته !
تواب ورمېږ کوږ کړ، جُوجُو پر لښته ناست و، د سپوږمۍ رڼا یې تر روڼ ځان وتله. تواب یې تر څنګ کېناست، ورو یې وویل:
ـ دلته څه کوو ؟
ـ یوازې دروازې ته ګوره !
تواب مخامخ وکتل، د سپوږمۍ رڼا د یوه کور په خړ دېوال کې لرګینې دروازې ته سیخه وه. تواب ورو وویل:
ـ ولې؟
ـ اه ګرانه ! حوصله ښه ده.
هلک غلی شو، څنګ ته له لانده لښتي د چونګښو کورړا راتله. یو چا وټوخل، تواب په پاڼو کې ننوت، مخامخ یو څوک تېر شول، پر اوږه تم کړې بیلچه یې د سپوږمۍ رڼا ته ځلېدله.
تواب ورو وویل:
ـ دهقان دی.
جُوجُو په خبره کې ور ولوېد:
ـ پوهېږم. تحقیق مې کړی، دلته اوبه کمې دي، د کاریز اوبه د شپې هم په وار وي
پاو ووت، لیرې له یوه کوره د ماشوم کمزورې نرۍ ژړا راتله.
تواب وویل:
ـ ولې ناست یو ؟
ځواب یې وانه ورېد. یو دم له مخامخ دروازې سره ځنځیر ولګېد ، له دروازې یو سر راووت، یوې بلې خواته کوږ شو ، پله نیمکښه شوه، یو سړی ودرېد ، مخامخ د دوی پر خوا را روان شو.
جُوجُو وویل:
ـ ودې پېژانده؟
ـ نه

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library


ـتره دې دی.

تواب په بیړه له سترګو پاڼې لیرې کړې، ځیر شو ، د سپوږمۍ رڼا د سړي څېرې ته برابره وه ، هلک په حیرانۍ وویل:

ـتره مې په دې نیمه شپه کې دلته څه کوي؟

جُوجُو غلی و ، سړي تر لښتي ټوپ کړ ، د هډېرې خواته یې ګړندي ګامونه واخیستل.

جُوجُو وویل:

ـبس ! همدومره.

د پاڼو په مینځ کې د بټې ګوتې په اندازه نری رڼا پورته شوه ، تواب په رڼا پسې روان شو ، رڼا تر هډېرې ښکاره بده. هلک ورغی ، جُوجُو د یوه سیمیټي قبر پر ژۍ ناست و. تواب مخامخ ورته ودرېد.

جُوجُو وویل:

ـتره دې یوې کونډې ته ورځي.

د تواب زنګنونه ولړزېدل. ځای پر ځای کېناست.

جُوجُو وویل:

ـتېره اونۍ ستاسو د کلا د برج پر سر ناست وم ، نیمه شپه وه ، څه مې لیکل ، یو دم مې د کلا د دروازې چونګا واورېده ، ورغلم ، تره دې په احتیاط د باندې ووت ، شکي شوم ، تر دې کوره مې تعقیب کړ ، له کونډې سره یو ځای پرېووت.

جُوجُو غلی شو ، یودم یې وویل:

ـاه ګرانه ! اوښکې ښې نه درسره ښکاري.

تواب خپل سر په دواړو لاسونو کې ونیو.

جُوجُو وویل:

ـخوابدون مې نه درباندې لورېده ، خو مجبور شوم ، تره دې د خپلې لور مخ ته ځکه سوکان ونیول چې یوه ترې ناشناخته ځوان ته یې اوبه ورکړې وې ، خو دی.

جُوجُو غلی شو. تواب په ژړغوني غږ وویل:

ـباور مې نه راځي ، تره مې تر پنځه پنځوسو کلونو اوښتی دی ، اوږده ږیره ، په ملا پسې پنځه وخته لمونځ ، ثوابي روژې...توبه !

تواب غریو واخیست.

جُوجُو وویل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـد یو چا په ظاهره مه غولېږه !
هلک ورو ورو سونګېده.
جُوجُو وویل:
ـغواړم چې د کوندې په اړه هم یو څه درته ووایم، خو دا مناسب ځای نه دی، بوتې دي، باید هوارې ته لاړ شو.
تواب په پښو ودرېد، دواړه د ښتې ته ورسېدل.
جُوجُو وویل:
ـتر دې بل ښه ځای نه شو موندلی.
هلک پر شګلنه ځمکه پلتۍ ووهلې.
جُوجُو پر ځمکله لاس تېر کړ، غولی ځلور کونجه وړې ړنا ونیو.
جُوجُو وویل:
ـدلته مې د کوندې په اړه یو څه لیکلي دي. غوږ ونیسه ! یو پردی سړی، یوې ښځې ته راغی، یو ساعت ورسره و، بېرته لاړ.
ښځې توشکه واړوله، څو چړموړلي لوټونه یې سترګو ته ونیول، یو دم یې کوکه کړه، په چیغو چیغو یې وژړل، سر یې څو ځله پر دېوال وواهه، ټکری یې ور واخیست، انګړ ته ووته، د ځا پر بېلر یې د دواړو لاسو نو ډنګرې ګوتې کېښودې، لاندې، اوبو ته یې وکتل، د رڼو اوبو پر سر سپینو ستورو ټال خوړ. یو دم یې کوکه کړه، خولې ته یې لاس ونیو، سا یې تر پزې راوختله. هغې ژړل او زه د بېلر پر مخامخ ژی ورته ناست وم. ما د ځا په اوبو کې د ښځې د اوښکو د لوېدو غږ اورېد.
ښځې پورته وکتل. په غریو کې یې وویل:
ـاه خدایه ! زه د ژوند کولو حق نه لرم، نن مې خپل عزت په پیسو ورکړ.
یو دم د بېلر پر ژۍ کېناسته، پښې یې ځا ته ور وغځولې، ناڅاپه یو غږ راغی:
ـادې ! تږی یم.
ورو مې کتل، په چوتره کې یو ځلور ـ پنځه کلن ببر سری هلک ولاړ و.
کوندې منډه ور واخیسته، ماشوم یې پر خپل ټټر پورې ټینګ ونیو، په چیغو چیغو یې وژړل...مور ژړل، ماشوم غلی و.
وروسته دواړه یوې بلې کوټې ته ننوتل، پسې ورغلم، څراغ بل شو، یوه وړه نجلۍ پرته وه، اووه کلنه، یا تر دې یو څه ډېره، خو نجلۍ وچه کلکه وه، کله کله به یې زګېروی شو، وبه یې ټوخل، تېزه تېزه ساه به یې ووهله، بېرته به غلې پرېوته.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library


زه پورته په تاخچه کې ورته کېناستم. د نجلۍ د مخ پر راوتليو هډوکو يوازې خړ پوستکی پروت و. کوچني هلک په وړه ژبه وويل:
ـ ادې ! ولې دې ژړل؟ ډوډۍ نه شوه درته پاتې؟
ښځه غريو واخيسته:
ـ نه ګرانه ! خور ته دې خپه وم.
يو دم يې تر ماشوم لاسونه راوګرځول. وخت ووت، ماشوم يې هماغسې له غېږې نه جلا کاوه، وروسته يې په ژړا کې وويل:
ـ د خور د علاج نيمايي پيسې مې پيدا کړې، پاتې يې بل وخت راکوي.
هلک خپله مور پر تندي ښکل کړه، مخامخ ورته ودرېد ، ښځې پر خپل مخ ټکری ور کش کړ، په ژړا کې يې وويل:
ـ اه ګرانه ! د ليدو وړ نه يم. مه راته ګوره.
ماشوم په خواره خوله وويل:
ـ ولې؟
ښځې څراغ ته ور پوه کړل، هماغه د خپلو اولادونو تر څنګ پر زاړه ليکې ليکې تغر پرېوته. ما يې يوازې سلګۍ اورېدې. څه به مې کول؟ له هغه ځايه را ووتم، خو پوښتنې راسره پاتې وې، له چا به مې مالومات غوښتل؟ نه پوهېدم.
يو دم مې کړپ واورېد ، د ستورو رڼا ته مې يوه توره پيشو ولېده، پيشو د دېوال پر سر روانه وه، ورغلم، پر سرداو ورته کېناستم، خو پيشو د کونډې په اړه ډېره نه پوهېده، لنډه يې را ياده کړه چې د کونډې په کور کې يې تر اوسه د غوښې بوی نه دی حس کړی، له ناتاره (په شړومبو کې لنده ډوډۍ) پرته بل څه نه خوري، نو نه يم ورته راغلې.
پيشو ته مې وويل:
ـ داسې څوک شته چې د کونډې په اړه مالومات راکړي؟
ـ يو زوړ سپی دی، څو کاله د دوی کره و ، خو کله چې د کونډې خاوند مړ شو ، ګېډه يې نه ډکېده، تېوله ورځ به د کلي په ډېرانونو ګرځېده، اخير يې د مجبوريت له مخې کور پرېښود ، اوس د ولسوالۍ په بازار کې د قصابيو مخې ته پروت وي.
په خبره کې يې ور ولوېدم:
ـ خو هلته ډېر سپي دي.
پيشو هوښياره وه، زما مطلب يې ژر واخيست:

WWW.LARAWBAR.COM

LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـزوړ سپی په اسانه موندلی شي، کینه پښه درنه پسې اخلي. یوه شپه د یوه کور سره چرګه ګېډړې وتښتوله، خو سړي زاړه سپي ته ټوپک ونیو، ډز پر پښه ولګېد.
پیشو همدومره خبرې وکړې، په ادب یې له ما لار وغوښته او خپله مخه یې ونیوله.
زه په هماغه شپه د ولسوالۍ بازار ته لاړم، زوړ سپی مې په اسانۍ وموند، د دوکانونو شاته یې د حلالو شویو غواوو پاتې شوې وچې وینې څټلې. لومړۍ پوښتنه مې د کونډې د مېړه په اړه وه.
سپي ښه خوله ترې وهله، را یاده یې کړه چې له کونګرېتوبه ورسره و، د کونډې مېړه په کلي کې کوچنی دوکان درلود، یو سهار ښار ته په سودا پسې لاړ، خو مازیګر یې په تابوت کې راووړ، کونډې ځان له ځمکې ځمکې ویشت، وېښته یې شکول، خو ګټه یې نه درلوده. د کلیوالو له خبرو پوه شوم چې د سورلۍ موټر په ماین ختلی و، دوی په خپلو کې سره ویل چې مړی د ښکارېدو نه دی. زما هم زړه ته ولوېده، له تابوته د سوځېدلو غوښو بوی راته.
بس! کونډې ته غمونو ور مخه کړه، پوډري لېوره یې دوکان خرڅ کړ او ایران ته لاړ. کونډه سوال ته مجبوره شوه، خو د انسانانو زړونه سخت دي، وچه ډوډۍ به یې په سختي موندله. وروسته یې لور ناروغه شوه، نه پوهېږم چې څه بلا وهلې ده، خو علاج یې ډېرې پیسې غواړي.
جُوجُو غلی شو، پر غولي یې لاس تېر کړ، رڼا ورکه شوه.
تواب په غریو کې وویل:
ـکونډه د خپلې لور د تداوي له پاره زما له تره سره پرېوته؟
جُوجُو وویل:
ـتره دې شرط ورته ایښی و، نن به یې پاتې دوه نیم زره افغانۍ هم ورکړې وي.
تواب یې په خبره کې ور ولوېد:
ـتره مې باید خپله سزا وويني.
جُو جُو وویل:
ـاه ګرانه! دومره سر مه پسې ګرځوه! ماته یې پرېږده.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * *

تواب سترګې رڼې کړې ! مور يې تر څنګ ناسته وه، هغې ورو وويل:

ـ سره غرمه دې کړه، مکتب دې هېر دی؟

هلک د باندې ووت. په چوتره کې هېڅوک نه و، پر دسترخوان خيرنې پيالې، توره چايجوشه او له پاستو ايستل شوې خامې ژۍ پرتې وې. تواب له ځا بوکه را وايسته، څو لپې اوبه يې مخ ته ور واچولې، د تره له غوسې ډک غږ يې واورېد:

ـوا وا ! نه لمونځ، نه اودس ! د سپي غوندې مردار مخ دې نيولی دی، خدای ته به څه وايې !

تواب ور وکتل، تره يې د دالان په وره کې ولاړ و.

تواب کوټې ته ننوت، د تره له ملنډو ډک غږ پسې ورغی:

ـدا کور به بې برکته کړې.

تواب بکس ور واخيست، مکتب ته لاړ، ټوله ورځ يې د خولې خوند بد و، غرمه يې کور ته زړه نه کېده، کلا ته نږدې سره لمر ته د لښتي پر ژۍ کېناست، پښې يې اوبو ته ور وغځولې، يو دم يې تلې وتنخېدې، ناره يې کړه، په بيړه ودرېد. جُوجُو له اوبو راووت، تواب وويل:

ـزړه مې دې بوټ را وايست.

بېرته غلی کېناست.

جُوجُو وويل:

ـچورت دې سم نه دی.

د تواب شونډې وخوځېدې:

ـتره ته مې غوسه راځي، خو تر هغه مې هم کونډې ته خوا بديږي.

جُوجُو وويل:

ـما يې فکر کړې !

تواب په حيرانی ورته وکتل:

جُوجُو وويل:

ـله بکسه دې قلم او کاغذ راوباسه !

هلک هماغسې وکړل.

جُوجُو وويل:

ـوليکه !

ـڅه؟

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ولیکه ! تا د یوې مجبورې ښځې عزت ته په سپکه وکتل، بس ! په دوو ، درېيو ورځو کې به د ټوپک خوله در واوړي !
جُوجُو غلی شو ، کاغذ ته یې وکتل، ویې ویل:
ـ ښایسته خط نه لري، خو بیا هم ښه دی، لوستل کېږي.
کاغذ یې د هلک له لاسه کش کړ.
تواب مخامخ وکتل، لیرې د غونډۍ په لمنه کې تور سیرلي، د تورو تېکو غونډې ښکارېدل. ورو یې وویل:
ـ ښه نو ، دا خط څه کوې؟
ځواب یې وانه ورېد ، ورمېږ یې کوږ کړ، جُوجُو نه و.
تواب کور ته لاړ، ډوډۍ یې له مستو سره وخوړه، اوږد وغځېد ، مازیګر یې اوږه وخوځېده. خور یې وه، هغې په خواشینۍ وویل:
ـ پلار مې ډاکټر راووست.
تواب په بیړه کېناست، سترګې یې وموښلې:
ـ څوک ناجوړه دی؟
ـ لالا مې سږې تبې نیولی، په دې ګرمۍ کې غبرګې برستنې ورباندې پرتې دي.
تواب ولاړ شو ، د تره کوټې ته ورغی، ډاکټر پېچکاری ډکوله، پلار او نیکه یې غلي ناست ول.
تواب خپل تره ته وکتل، لړزې اخیستی و ، پر لاندنۍ چاودلې شونډه یې ډومبک وینه پرته وه.
تواب خپلې کوټې ته لاړ ، ورو یې وویل:
ـ جُوجُو !
ځواب یې وانه ورېد. منډه یې واخیسته، د کلا د دروازې تر مخ ودرېد:
ـ جُوجُو !
باغ ته لاړ، د انګورو د تاکونو په منځ کې ودرېد ، چیغه یې کړه !
ـ جُوجُو !
پرررر، شو ، له شنو پاڼو څخه خړې مرغۍ والوتې.
تواب پر پوله کېناست، شېبه ووته، پزه یې کش شوه ، جُوجُو وخندل:
ـ کوټ، کوټ، کوټ... ډېر راپسې وګرځېدې؟
تواب په غوسه وویل:
ـ ځان راوښیه، په تره دې څه ټکه راوستې ده؟

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر پوله سپینه رڼا را وګرځېده:

ـ اه ګرانه ! تره دې ډېر بې زړه دی !

ـ نو تا څه وکړل؟

ـ هېڅ ! کونډې ته یې یوه ارزان بیه ګوتمۍ اخیستې وه، را پټه مې کړه، تره دې غرمه ویده و، ګوتمۍ او کاغذ مې په خولۍ کې ورته کېښودل. خرهاری یې د زغملو نه و، غوسه راغله، پر پزه مې خوله ور ولګوله، سږی نېغ کېناست، خولۍ ته یې وکتل، رنګ یې والوت، کاغذ یې ولوست، چیغه یې کړه، شا پر تخته بېسده پرېووت.

تواب په خبره کې ور ولوېد:

ـ که یې زړه درېدلی وای، بیا؟

جُوجُو وویل:

ـ ځورېدا ورته ښه ده، دی به تر اوسه په دې فکر کې وي چې په رڼا ورځ یې څنګه په خپل کور کې خط او ګوتمۍ په خولۍ کې ورته کېښودل.

جُوجُو غلی شو، وروسته یې یو دم وویل:

ـ له کونډې سره مرسته کوې؟

ـ هو

ـ نو یو بل خط هم ولیکه. دوه ، درې ټکي بس دي. په دوو ورځو کې د کونډې له پاره د پنځو لکو افغانیو تیارول او که د برش مرمۍ؟

دا هم ولیکه چې پیسې به د شپې دوولس بجې په زړه ژرنده کې ږدې او له کونډې به لیرې ګرځې.

تواب په حیرانۍ ورته کتل.

جُوجُو وویل:

ـ بله چاره نه وینم، خط په پاکټ کې واچوه، تره ته دې وو ایه چې له فوټباله راتلم، له ګڼو ونو یو ناشناخته سړی راووت، سپېره، ډبل برېتونه یې لرل، سترګې یې سرې وې، پر مخ یې یو لوی تازه پرار (زخم) ښکارېده او له جېبه یې د توپانچې میل راوتلی و. همدا پاکټ یې راته ونیو.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * *

تواب غلی کېناست، مخې ته يې وکتل، پانې وې لاس يې ور وغځاوه، نرۍ ځانګه يې په دوو ګوتو کې ټينګه کړه، کړس شو، ځانګه ماته ملا، لاندې وځړېده. په نوې پيدا شوې چوله کې يې ژړندې ته وکتل، رنګ د بوالونه له ورايه ښکارېدل، د ژړندې زړه ناوه وچو بوټو نيولې وه.

تواب ورو وويل:

ـ جُوجُو؟

ځواب يې وانه ورېد.

کونګ ناري کړې، تواب په بيړه پورته وکتل، د ونې په ګڼو پاڼو کې هېڅ هم نه ښکارېدل، سپينې سپوږمۍ ته پنډې وربخې ور روانې وې، له کلي د سپيو غپا راتله

پانې وخوځېدې، هلک په بيړه ولاړ شو.

جُوجُو وويل:

ـ زه يم.

تواب سوړ اسويلی وايست، بېرته کېناست.

سپينه رڼا راتاو شوه، جُوجُو وويل:

ـ وختي راغلی يې؟

تواب ژړندې ته کتل...

جُوجُو وويل:

ـ بېځايه مه وېرېږه!

تواب په خبره کې ورولوېد:

ـ اوس هم د زړه په زور راغلم.

جُوجُو وويل:

ـ يوه ښځه مې ولېده، ماشوم يې د بلاوو او لېوانو په کيسو ويداوه، وېروونکې خبرې يې ورته کولې، ويل يې، د باندې توره بلا ولاړه ده، که ويده نه شوې، يوه ګوله به دې کړي.

ته هم نه يې ملامت، ډاډه يم، مور يا انا به دې دا رنګه کيسې درته کړې وي، څوک چې په ماشومتوب کې ووېروې، په لويوالي کې لوی زړه مه ورنه غواړه!

جُوجُو غلی شو، تواب ته يې وکتل، هغه د ژړندې رنګو د بوالونو ته وچې سترګې نيولې وې...

جُوجُو وويل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـمه وېرېږه، موږکان دي، په رالوېدلو وچو پاڼو خېژي.
تواب هماغسي ژرندې ته کتل...
جُوجُو وويل:
ـاه ګرانه! زړه دې مه خوره، شپه تر ورځې ښه ده، انسانان ويده دي، تاوان نه رسوي.
جُوجُو غلی شو، چوپه چوپتيا وه، پر پاڼو د موږکانو د تېرېدو غږ راته، ليرې يوه چرچرک نارې وهلې...
شپېه ووته، جُوجُو وويل:
ـاوس يې وخت دی، تره دې بايد راغلی وای.
تواب په خبره کې ور ولوېد:
ـراځي!
ـډاډه يې؟
هو، پرون ماښام مې خط ورکړ، د برېتور سړي څېره مې نوره هم له وېرې ورته ډکه کړه، لاره ترې ورکه شوه، کوټې ته ننوت، شپېه وروسته يې ښځې چيغې کړې، تره مې بيا ضعف کړی و. خو سهار ته په خپلو پښو تر موټره ورغی، د کلا دروازه ما ورته خلاصه کړه، رنګ يې ژېړ و، مازيګر پلی کور ته راغی، نيکه ته يې وويل چې موټر عوارض پيدا کړي و، خرڅ يې کړ، په پيسو به يې بل موټر واخلي.
جُوجُو وويل:
ـنيکه يې قانع کړ؟
ـتره مې د موټرو په کاروبار ښه پوهېږي، دا رنګه سوداوې يې پخوا هم کړې وې.
کړپ شو، تواب ځان ټيټ کړ، پاڼې يې ورو له سترګو ليرې کړې، تره يې د ژرندې مخې ته ولاړ و، يوې بلې خواته يې په وېره کتل. وروسته يې د ژرندې پر ناوه يوه غوټه کېښوده.
جُوجُو ځانګې وښورولې، د تواب تره يو دم چيغه کړه! زنګنونه يې پر ځمکه ولګېدل، په زوره يې وويل:
ـد خدای له پاره! واړه ماشومان لرم!
جُوجُو يوه څانګه ماته کړه، له کړپ سره، سړی پر ځمکه پرېووت، خپله پزه يې پر غولي ومونښله!
ـتوبه مې ده، بد مې کړي، د خدای روی ومنئ، بيا به داسې نه کوم.
سړي يوه شېبه توبې وايستې، بيا ورو ولاړ شو، تواب تر هغو پسې کتل چې په تورو ونو کې ننوت.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



جُوجُو وويل:
ـدا خو ډېر بې غېرته و...
تواب په خبره کې ور ولوېد:
ـله رسوايۍ ډارېده.
جُوجُو وويل:
ـراځه!
دواړه د ژرندې ناوې ته ودرېدل، تواب غوټه خلاصه کړه، د زرګونو پنځه تړلي بنډله وو.
جُوجُو وويل:
ـدا پيسې بايد کونډې ته ورورسوې.
تواب په پوښتونکي نظر ورته وکتل.
جُوجُو وويل:
ـزړه دې غټ ونيسه، زه درسره يم.
تواب نيم ساعت وروسته د کونډې د کور دروازې ته ولاړ و. هلک د دروازې په ليخک کې تړلې غوټه کېښوده، شاوخوا يې وکتل، يوه تيږه يې له خاورو راپورته کړه، دروازې ته يې ونيوله او دروازه يې پرې وټکوله.
منډه يې واخيسته او دروازې ته مخامخ په ګڼو نيالګيو کې کېناست، سپوږمۍ تېزه وه، ان د دروازې پر سر د غومبسو غټه ځاله هم ښکارېدله.
وخت ووت، دروازه خلاصه نه شوه.
جُوجُو د تواب پر ورانه چونډۍ ولګوله.
تواب ورو ولاړ شو، بيا يې دروازه وټکوله، په منډه يې ځان تر نيالګيو را ورساوه.
د کونډې وارخطا غږ يې واوېد:
ـڅوک يې؟
وخت ووت، دروازه هماغسې تړلې پاتې شوه.
جُوجُو وويل:
ـيو ځل بيا!
تواب غلی ولاړ شو، داځل يې دروازه يې په شدت وټکوله.
کونډې وويل:
ـڅوک يې؟

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروازه خلاصه شوه، وارخطا ښځه په وره کې ودرېده، په لاس کې يې د تناره سيخ نيولی و. ښځې يوې بلې خوا وکتل، يوه شېبه ودرېده، بيا يې غوتې ته پام شو، ور وايې خيسته او کور ته ننوته.

جُوجُو وويل:

ـ راځه!

تواب په حيرانۍ ورته کتل...

جُوجُو وويل:

ـ زړه دې، که غواړې چې د کونډې له حاله خبر شې، نو په ما پسې راځه.

تواب حرکت ونه کړ.

جُوجُو وويل:

ـ مه وېرېږه. نه دېويني.

تواب وويل:

ـ خو دروازه تړلې ده، د ځنځير شرنګ دې وانهورېد؟

جُوجُو په خبره کې ور ولوېد:

ـ اه ګرانه! نوي خو مو نه دي سره پېژندلي.

تواب دروازې ته ودرېد.

جُوجُو ورک شو، شېبه وروسته د دروازې ځنځېر ورو له درې سره ولګېد، تواب اوږه ورکړه، دروازه نيمکښه شوه. هلک په احتياط انګړ ته ور ننوت، شاوخوا يې وکتل، سپېره غولی و، ان يو شين ډکی هم نه ښکارېده، يوازې له څا سره يو کوږ نيالګی ولاړ و. تواب چوترې ته وخوت، يو دم ځراغ ولګېد، تواب پرېووت، د جُوجُو ورو غږ يې واورېد:

ـ دې خواته!

هلک ور وښويېد، له کړکۍ سره غلی کېناست. کوټې ته يې وکتل، کونډه حيرانه ناسته وه، خلاصې غوټې ته يې وچې سترګې نيولې وې. وروسته يې يو دم يو بنډل ور واخيست، ځراغ ته يې ور نږدې کړ، په ځير ځير يې ورته وکتل.

بيا يې يو ناڅاپه وخندل، خندا يې زور ونيو، د هغې تر څنګ پروت ماشوم کېناست، په حيرانۍ يې خپلې مور ته وکتل، په وېره يې وويل:

ـ ادې! ډوډۍ دې موندلې ده؟

ښځې مخ ور واړاوه، يو دم يې غبږه ترې تاوه کړه، بېرته يې له خپل ټټره بېل کړ، پيسې يې ور واخيستې، په خوند يې وويل:



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ دومره پیسې مې په ژوند نه وې لیدلې.
ماشوم غلی و.
ښځې وویل:
ـ اوس به دې نو خورکۍ د کابل په ډاکټرانو وګرځوم، خدای به یې جکه جوړه کړي.
ماشوم ورو وویل:
ـ ډوډۍ به ډېره وي؟
ـ هو زړه ! سهار به یوه ګونۍ اوړه را وغواړم، له دې ایسته به خپل تنور بلوو.
نجلۍ وسونګېده. ښځې د هغې خوار ولي وښورول، په خوند یې وویل:
ښایستې لورې، سترګې رڼې که !
نجلۍ هماغسې پرته وه.
ښځې وویل:
ـ وګوره، پیسو ته وګوره ! ټول زرګون دي.
نجلۍ مړاوې د مور په لاس کې نیولي بنډل ته وکتل، په زحمت یې وویل:
ـ چا راوړې ؟
ښځه غلې شوه، شېبه وروسته یې ورو وویل:
ـ نه پوهېږم !
چوپه چوپتیا شوه، مور، لور او زوی پیسو ته کتل...
د ښځې شونډې وخوځېدې:
ـ ملایکو !
ټول غلي وو، یوه هم کومه خبره ونه کړه، پر خړ دېوال د ماشوم د ببرو وېښتو سیوری لړزېده.
جُوجُو د تواب پزه کش کړه، تواب ولاړ شو، ورو له انګړه ووت. مخکې لاړ. تر هدېرې تېر شو.
جُوجُو وویل:
ـ نېک کار خوند نه لري؟
تواب ځړېدلی سر روان و.
جُوجُو وویل:
ـ سمه ده، خه مه وایه.
وخت ووت، تواب د کلا تر مخ د مېلمنو د کوټې بام ته وخوت، پر سپېره ډاګ ستوني ستغ اوږد وغځېد. پورته یې وکتل، د سپوږمۍ رڼا تېزه وه، ستوري تت ښکارېدل.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



جُوجُو وويل:
ـ کور ته نه ځې؟
تواب سوړ اسويلی وايست:
ـ نه، د تره له سوبه (علته) مې زړه نه کېږي.
غلی شو.
جُوجُو وويل:
ـ بيا ژاړې!
ـ نه
ـ ما دې په سترګو کې سپوږمۍ ولېده، صافه نه وه، يوې بلې خوا ته رِنګېدله، اوښکې وې.
تواب ټوخي واخيست، يوه شېبه يې وټوخل، ويې ويل:
ـ کونډه او د هغې ماشومان مې سترګو ته ولاړ دي.
جُوجُو په خبره کې ور ولوېد:
ـ اه ګرانه! دا خو يوازې يوه وه، که په نورو کيسو پوه شې، زړه به دې وچوي.
جُوجُو غلی شو، يودم يې وويل:
ـ اورې؟
ـ څه؟
ـ د بېلچې غږ
ـ هو، خو ډېر ليرې دی.
جُوجُو وخندل:
ـ دومره هم نه، له وېرې ورو کار کوي.
تواب وويل:
ـ نو دا وخت؟
جُوجُو په خبره کې ور ولوېد:
ـ راځه! ځينې خبرې بايد درته مالومې شي.
دواړه له بامه ښکته شول، ولاړ غنم يې په مخه ورکړل، تېرو لوخو ته ودرېدل. تر لوخو ور هاخوا يو چا د کارېز اوبه اړولې.
تواب په بيړه وويل:
ـ دا خو تاجو دی، ده پرون اوبه ولګولې. نوبت يې تېر شو.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جُوجُو غږ يې واورېد:
ـد اوبو په غلا پسې راوتلى.
ـاه، نه يې شم منلى، د تاجو له غلا نه بد راځي، حرامه يې ګڼي.
ـاوس خو يې وينې.
تواب غلى شو.
جُوجُو وويل:
ـراځه !
دواړه بېرته شاته وګرځېدل، له ګڼو چنارانو ووتل، د زنګولې غږ راغى، د پچو بوى له خاورو سره ګډ و.
تواب ته غوسه ورغله:
ـد خداى له پاره، کوچي شنو تاکونو ته رمه ور پرې اېښې.
دواړه د پخځې تر ځنګ تېر شول، يو څوک پر سرداو ناست و، پر دېوال له راغليو څانګو يې زردالو شکول، پورته سپينه سپوږمۍ ولاړه وه.
تواب ځړېدلى سر د کلا خواته روان شو.
جُوجُو وويل:
ـځينې نورې خبرې هم شته.
ځواب يې وانهورېد.

* * *

تواب پر خامه هندوانه وخوت، سپين ښويه بوجان (زړي) ترې را ووتل، ختکي ته يې د تېره بوټ څوکه سيخه کړه، ختکى له جوړنګ بېل شو، ورغړېد او په لښتي کې ولوېد. بکس يې کېښود، يو دم يې د پالېزه پر جوړنګانو خپرې کړې لانده بوټي له بېخه راوتل.
تواب سترى شو، بکس يې شاته واچاوه، لېرې يو چا رشقه رېبله ورغى، په لوړ غږ يې وويل:
ـپالېز مې دې له بېخه را وايست.
په رشقه کې د لور د تېرېدو غږ ودرېد، سړي ملا سيخه کړه، حيرانې سترګې يې له چخړو ډکې وې.
په سړه سينه يې وويل:
ـ په سد يې؟

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تواب شونډې وخوځېدې !

ـ تاجو ! که یې نه منې ، نو ورشه ویې ګوره !

د سړي تندی تریو شو:

ـ غټان په خپل نوم مه بوله !

هلک غبرګ لاسونه د سړي سترګو ته ونیول:

ـ ها ! نوکانو ته مې وګوره، له ختو ډک دي.

سړي لور کېښود ، پوله یې په مخه ورکړه، تواب هم ګړندي ګامونه پسې واخیستل. سړی د پټي په کونج کې را ایستل شویو جوړنګانو ته ودرېد.

یوه شېبه غلی و ، بیا یې یودم ځمکې ته لاس کړ، یوه وړه شکېدلې هندوانه په ګوتو ورغله، تواب سر ټیټ کړ، هندوانه پر پوله ولګېده، چاک شوه او راوتلو اوبو یې خاوره ورسره ورغړوله.

سړي تبرې ته لاس کړ، تواب چیغه کړه !

ـ ته غل یې، تبره شپه دې د کاریزه اوبه اړولې.

د سړي له لاسه تبره ولوېده.

تواب وویل:

ـ تا د ګل رحیم اکا یتیمانو ته هم ونه کتل، یوازې دوه پټي لري، خو ته د کاریزه سلامت شوا روز خورې، بیا دې هم اوبه ترې غلا کړې !

سړي حیرانې سترګې ورته نیولې وې.

تواب وویل:

ـ په جومات کې یې وایم.

سړي یودم وخندل:

ـ ټول پالېز تر تا جار، ټوکې مې کولې، نه یم په غوسه.

بیا یې خپل جیب ته لاس کړ، شلګون یې راوایست:

ـ هه ! په مکتب کې به څه پرې واخلې.

تواب روان شو ، مخکې لاړ، شاته یې وکتل، سړي شلګون ورته وښوراوه.

د تواب بکس دروند شو ، جُوجُو وویل:

ـ ښه دې ونه کړل.

د تواب شونډې وخوځېدې:

ـ اوس کوچیانو ته ورځم.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



جُوجُو وويل:
ـ اه ګرانه ! بدو ته په بدو ځواب مه وايه.
تواب ځړېدلی سر روان و.
جُوجُو وويل:
ـ مکتب به څنګه کوې؟
ـ اول سات خالي دی.
تواب تر فصلونو ووت، دښته يې په مخه ورکړه، د غونډۍ په لمنه کې د کوچيانو تورې کېږدۍ ولاړې وې.
جُوجُو وويل:
ـ د تېرې شپې کوچی به په کومه يوه کې پسې غواړې؟
غټ کوچياني سپي غپ وهل، منډه يې را واخيسته، بکس سپک شو، سپی ځای پر ځای ودرېد.
وربوز يې پر خاورو کېښود، لکۍ يې له ځمکې مړه دوړه پورته کړه، بېرته کېږدۍ ته ور وګرځېد.
بکس درونډ شو:
ـ دلته يې نه شې موندلی.
تواب وويل:
ـ ولې؟
ـ سپي را ياده کړه چې بېګانۍ رمه تر غونډيو ورهاخوا پسې وغواړئ.
د تواب تندی تریو شو:
ـ سپی دروغ وايي !
جُوجُو وخندل:
ـ اه ګرانه ! د سپي سپکاوی مه کوه، که خبر شي نو د ځان توهين يې ګڼي.
تواب پر يوه هواره تېږه کېناست. مخامخ يې وکتل، دوو ځوانو کوچيو پچې جارو کولې، خرو لنډ لنډ ګامونه اخيستل، پښې يې تړلې وې.
د جُوجُو غږ يې واورېد:
ـ د کوچيانو ژوند سخت دی.
تواب وويل:
ـ خو ماته خوند راکوي.
جُوجُو وخندل:

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ په دې خبرو پسې مه ګرځه !
تواب غلی و.
جُوجُو وویل:
ــ راځه !
ــ چېرته؟
ــ دا خوند باید له نږدې ووینو.
هلک ورو روان شو ، له یوې کېږدۍ یوه بوډۍ راووته.
تواب په شونډو کې وویل:
ــ د کورتو اخیستلو بانه ښه نه ده؟
د جُوجُو غږ یې واورېد:
ــ ترڅو به په دروغو ژوند کوی؟
بوډۍ خپله چونډاره لمن د سپي سترګو ته ونیوله. په زهیر ، خو ډډ غږ یې وویل:
ــ څه غواړې؟
تواب ور مخته شو:
ــ د یوه کوچي پوښتنه مې کوله، بېګا یې د انګورو په تاکونو کې یوه پاڼه هم نه ده پرېښې.
بوډۍ وویل:
ــ موږ رمه نه لرو ، مازې څو مېږې راپاتې دي، مردار نه پرې خورو.
تواب په خبره کې ور ولوېد:
ــ تږی یم.
سپي وغرېد ، یودم غلی پرېووت.
بوډۍ وویل:
ــ کېږدۍ ته ور ننوځه، سپي خروړی (خوړونکی) دی.
تواب ور وکتل، سپي پر خړو خاورو خپل وربوز ایښی و.
تواب کېږدۍ ته ننوت. پر زاړه او شکېدلي لیمخي کېناست، شاوخوا یې وکتل، څنګ ته خیرنې بسترې پرتې وې، پورته مات شکېدلي غلبېلونه را ځړېدل.
یودم یې غوږ سوړ شو ، ورمېږ یې کوږ کړ ، بوډۍ له اوبو ډک جام ورته نیولی و.
تواب لاسونه ور وغځول، شونډې یې د جام پر ژۍ کېښودې، اوږه یې درنه شوه ، جُوجُو وویل:
ــ دوې ورځې دلته وم، په همدې جام کې سپي خوله وهله.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



تواب یو دم وتوخل، له خولې یې نریو رنو اوبو داره وکړه.
بوډۍ وویل:
_بسم الله
تواب جام پر غولي کېښود.
زګېروی شو، تواب شاوخوا وکتل، بړستنې وښورېدې. بوډۍ ورغله، غبرګې بړستنې یې چوله کړې، ببر، سره نښتي ژیړ وېښته ښکاره شول.
بوډۍ وویل:
_جار!
د تواب غوږ و تخنېد:
_لمسۍ یې ده، غونډل چیچلې.
تواب د بړستنو خواته ور وښوېد.
بوډۍ د نجلۍ مخ لوڅ کړ، د هغې پر لمر سوځولي تور تندي یې لاس کېښود، سوړ اسوېلی یې وایست:
_لکه له تناره چې دې را ایستلې وي.
تواب وویل:
_ډاکټر ته مو نه ده وروستې؟
بوډۍ خپلې لمسۍ ته وچې سترګې نیولې وې.
تواب وویل:
_غونډل خطرناکه دی.
بوډۍ یو دم ور وکتل:
_ته له کومه پوه شوې؟
د تواب ژبه بنده شوه:
_ما، ما
بوډۍ وویل:
_ته بې څه نه یې، په غیبو پوهېږې، سپی هم څه نه درته وایي.
تواب غلی و.
بوډۍ د خواست په ژبه وویل:
_ها زویه، خدای دې په ځواني برکت که، ماته خو بزرګ ښکارې. په دې لمسۍ خو مې یو دم وکه!

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



تواب په حیرانۍ ورته کتل.
بوډۍ تور واړه د ېګ ته لاس ور وغځاوه، د ېګ یې د تواب تر مخې کېښود:
ـ ها، د یوې غړکې نوین (تازه) کوچ دې، په شکرانه کې یې درسره یوسه.
تواب ولاړ شو، بوډۍ تر لمن ونیو، تواب بېرته کېناست، شونډې یې وخوځېدې، د نجلۍ مخ ته یې خوله ور نږدې کړه، له چوف سره د هغې په ببرو وېښتو کې نښتې پلاله وخوځېده.
تواب په بیړه له کېږدۍ ووت، منډه یې واخیسته. لېرې ودرېد، د پښو څرپکې یې واورېدې، ورمېږ یې کوږ کړ، سپې لکۍ خوځوله.
تواب کېناست. غوږ یې وتخنېد. جُوجُو وویل:
ـ ښه نو، ته بزرګ یې؟
تواب ته غوسه ورغله:
ـ ملنډې مه وهه!
جُوجُو وخندل:
ـ کوټ، کوټ، کوټ...د تندي ګونځې دي بیا ډېرې شوې، سپی بې حوصلې دی، یوازې اشاره غواړي، یوه ګوله به دې کړي.
تواب غلی و.
جُوجُو وویل:
ـ یوه پوښتنه؟
تواب ورو وکتل:
ـ څه؟
غونډل انسان وژني؟
ـ هو، تېر کال یې زموږ د دهقان کوچنی زوی وخوړ (وچیچه)، څو ورځې وروسته یې ډاکټر ته یووړ، خو په لاره کې مړ شو.
تواب غلی شو، یودم یې وویل:
ـ اوس نو مه وایه چې غونډل بې ازاره دی.
جُوجُو وویل:
ـ بیا دې هم په قضاوت کې بیړه وکړه. غونډل مې ظالم وګاڼه، خو هغه را یاده کړه چې کلونه همدلته اوسېدو، بس! کوچیان راغلل، غټې تیږې یې لیرې کړې او کېږدۍ یې ودروله. موږ د

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږکانو يوه پخواني غار ته پناه وروړه، خو هلته يې هم په کراره نه پرېښودو ، نجلۍ ډکه بدنې په غار کې تشه کړه، يو شوخ زوی مې پر لمن ور وخوت او د نجلۍ غاړې ته يې خوله وروړه.
تواب غلی و.
جُوجُو وويل:
_ته خوشاله يې چې دا کوچۍ مړه شي؟
تواب په حيرانۍ ور وکتل.
جُوجُو وويل:
_ورشه، بوډۍ پوه که چې د نجلۍ غم وخوري.
تواب ورو ولاړ شو.. شېبه وروسته د کېږدۍ ترمخ ودرېد. بوډۍ د کوچو له ډېگ سره راووته.
تواب ورو وويل:
_نجلۍ بايد ډاکټر ته ورسوئ!
بوډۍ وخندل:
_جار، د ډانگټر کار يې نه دی، ستا دم به يې ټک پتری کړي.
يو دم يې هلک تر لاس ونيو او دواړه کېږدۍ ته ننوتل.
بوډۍ د نجلۍ له مخې برستن ليرې کړه، په خوند يې وويل:
_ها ورته وگوره! کراره پرته ده.
تواب ور وکتل، د نجلۍ د خولې لنده غاړه تکه شنه وه.
بوډۍ وويل:
_پياز مې په اور کې ايښی، بس! چې خوړين شو، پر غاړه به يې ور وتړم، ټول زار (زهر) او ناوونه (چرک) به يې را وباسي.
ډېر کوچيانی غږ واورېدل شو:
_دا څوک دی؟
تواب په بيره ور وکتل. له عمره پوخ چاغ، گردی سړی ولاړ و.
بوډۍ وخندل:
_تږی و، خو په بزرگۍ کې يې شک نشته، يوه چوف يې سنځله کراره پرې ايسته.
کوچي لوی ډانگ د کېږدۍ ټاټ (ټوټې) ته ودراوه، خيرن بالښت ته يې ولې ولگول، په ډېر کوچياني غږ يې وويل:
_ادې! جونگۍ مې خرڅ کړ!

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډۍ يو دم کېناسته، تواب ور وکتل، د ښځې رنګ الوتی و.
کوچي وويل:
ـ خوا مه بدوه، په کور کې يوه لپه اوړه هم نشته.
د بوډۍ د تندي ګونځې لا پسې ژورې شوې؟
ـ همدا يو جونګۍ راپاتې و.
کوچي ته غوسه ورغله !
ـ بلا ورپسې ! زېکي (هلکان) خو له لوږې نه شو مړه کولای !
مېږې رمباړه کړه، تواب ور وکتل، دوه واړه هلکان په خو ډنګرو مېږو پسې روان وو. يوه يې
پرتوګ نه درلود ، اوږده لمنه يې باد وهله.
د کوچي غږ يې واورېد:
ـ مړې خورې؟
تواب ور مېږ کوږ کړ، کوچي ده ته کتل.
تواب په بېړه وويل:
ـ نه.
تر کېږدۍ ووت، ودرېد ، کوچي ته يې مخ ور واړاوه، په وېره يې وويل:
ـ دا نجلۍ ډاکټر ته بوزه، مري.
کوچي چيغه کړه !
ـ ګل اندامې ! دا چای زار زکوم دې پسې څه که !
ښځينه غږ يې واورېد:
ـ ځوځ خوله (اور) نه اخلي، لانده دي.
تواب ښۍ خوا ته وکتل، په خړ، پنډ لوګي کې يوه ښځه پټه وه، ښځې يو دم وټوخل، ولاړه شوه،
سترګې يې تکې سرې وې. ببرته کېناسته، ځوځو ته يې ور پوه کړل، غوټه لوګی يوې خوا ته کوږ
شو.
تواب په ځړېدلي سر ګامونه واخيستل، جُوجُو يې پر اوږه کېناست، ورو يې وويل:
ـ هلکانو ته وګوره !
تواب سر پورته کړ، بې پرتوګه هلک په خاورو کې ناست و ، پر خوله او پزه يې مچان بونګېدل،
بل د کوټي خلاصو پښو ته پړی ور اچاوه.
جُوجُو وويل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ اوس پوه شوې چې کوچیان سخت ژوند لري؟
تواب یې په خبره کې ور ولوېد:
ـ زه خبر وم، په کتابونو کې یې ډېر صفت راغلی، ان لوی لوی شاعران او لیکوالان یې لا په صفت نه مړېږي.
جُوجُو وخندل:
ـ اه ګرانه! په دې خبرو پسې مه ګرځه. زه دوې، درې ورځې له کوچیانو سره وم، ډېر څه مې لیکلي، خو لمر دی، برقي توري سم نه ښکاري.
تواب غلی روان و.
جُوجُو وویل:
ـ شاعران او لیکوال دې یاد کړل، ما هم د دوی ځینې لیکنې ولوستې، خو زه ډاډه یم چې کوچیانو ته یې پر پاخه سړک د روان موټر له ښیښو ور کتلي دي، دوی له لیرې د هغې پیغلې کوچۍ تصویر را اخیستی چې په اوښانو پسې روانه ده، خو هېڅکله یې د هغې له وچو شونډو راوتلی سترې (اه) نه دی اورېدلی، د هغې په چاودو پوندو کې یې تللیو اغزیو ته پام نه دی ور اوښتی، د هغې د تندې مړو خولو ته یې نه دي کتلي، د هغې په تنکي عمر کې یې د سترګو شاوخوا ګونځې نه دي لیدلې.
جُوجُو غلی شو. تواب هماغسې ځړېدلی سر روان و.
جُوجُو وویل:
ـ شرط تړم! که په همدې شاعر او لیکوال یوه ورځ د کوچي بړستن هواره کړې، تر سهاره به یې سپږمې ټینګې نیولې وي. که دې ډوډۍ ورته کېښوده، په کاسه کې به وښتان پسې غواړي، دوی د کوچیانو د ژوند په صفت نه مړېږي، خو که ورته وواېې چې یوه اونۍ ژوند ورسره وکړه، نو د پچو د بوی او دوړو له لاسه به یې د تشناب کاغذ سپږمو ته نیولی وي. یوه شېبه یې د موټر له ښیښو یوه کوچۍ پیغله ولیده، سل مخه یې په صفت ډک کړل.
جُوجُو غلی شو، د تواب پر اوږه یې چونډۍ ور ولګوله:
ـ پوښتنه یې وکړه چې لیکوال او شاعران باید څه وکړي؟
تواب وویل:
ـ څه وکړي؟
ـ ښه پوښتنه ده. په اوښ پسې روانه کوچۍ او په غره کې د شپېلۍ غږ، ټول ژوند نه دی، هر څه ته باید د واقعیت په سترګه وګوري، د هغې کوچۍ سرې سترګې دې ولیکي چې په لندو څوځو اور بلوي او سرې یې له لوګي ډک دي. هغه نجلۍ دې انځور کړي چې غونډل چیچلې، خو ډاکټر نه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري. هغه بې پرتوګه ماشوم دې یاد کړي چې پر خوله او پزه یې مچان بنګېږي او له مکتبه محروم دی. د هغو کوچیانو ستونزې دې وڅېړي چې ټوله مالداري یې ناروغیو ور تباه کړه.
تواب غلی و.
جُوجُو وویل:
ـ راته ووایه چې ګټه به یې څه وي؟
هلک همدا پوښتنه تکرار کړه.
جُوجُو وویل:
ـ واقعي لیکنې به د کوچیانو ستونزو ته د نورو پام ور واړوي، د دوی له ریښتیني ژونده به خبر شي، کېدای شي چې سیار مکتب او شفاخانه ورته جوړه کړي، د مالدارۍ غم یې وخوري. که نور نه وي، د هوایي خبرو پر ځای خو به یې واقعیت ویلی وي.
د تواب شونډې وخوځېدې:
ـ مکتب راورسېد.
اوږه یې سپکه شوه.

* * *

ملک وویل:
ـ یوازې تفدانۍ پاتې دي.
یو ځوان په منډه جومات ته ننوت، بېرته راغی، دوې تفدانۍ یې پر هوار ګېلم کېښودې.
ملک وویل:
ـ ښه ځای دی، هوا چلېږي.
څپلۍ یې وایستې، پر رنګارنګ هوارو ټغرونو مخکې لاړ، د زاړه توت تنې ته اېښي بالښت ته یې ډډه ووهله، ویې ویل:
ـ د چایو غم مو خوړلی دی؟
یوه کلیوال په بیړه ځواب ورکړ:
ـ کورونو ته مو احوال ورکړی، چای او ډوډۍ په خپل وخت راځي.
ملک غټه چونډۍ نصوار تر ژبې لاندې کړ، ورو یې وویل:
ـ ناوخته شول.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



کليوال غلي وو.
ملک وويل:
ـ توا به زويه ! د جومات بام ته ور وخېژه !
تواب پر ختېينو زينو وخوت. شمال لور ته يې وکتل، دښته له شنو سپاندو ډکه وه، ورمېږ يې کوږ کړ، لمر يې سترګو ته سيخ شو، ښی لاس يې پر وروځو کېښود، په لوړ غږ يې وويل:
ـ د زړې کلا له خوا خلک را روان دي !
يو کليوال خوله پورته ونيوله:
ـ څو کسان دي؟
ـ نه پوهېږم، له دې ځايه سم نه ښکاري، د ګلدين کاکا تر سنځلو راتېر شول.
هماغه سړي ور غږ کړل:
ـ څوک دي؟
ملک وخندل:
ـ ياره مير احمده، اجبه ساده خبره دې وکړه، ليرې دي، هلک يې شمېرلی نه شي، نو څنګه به يې وپېژني !
نورو کليوالو وخندل.
تواب د بام پر ژۍ کېناست. د توتکيو غچا شوه، مخ يې واړاوه، د جومات پر سپيکر دوې توتکۍ ناستې وې. لاندې يې وکتل، د زاړه توت څانګې پر ناستو کسانو ورغلې وې، د شنو پاڼو له چولو، خيرنې خولۍ او سپين پټکي ښکارېدل.
غرهاری شو، دوې ټيټې نرۍ هليکوپترې راغلې، تکې تورې وې، دښته يې په مخه ورکړه، له خپلو سيورو سره يو ځای تلې.
تواب ودرېد، چيغه يې کړه !
ـ نور هم راغلل !
له لاندې يو کليوال په لوړ غږ وويل:
ـ موټر دي؟
ـ هو.
ـ څو دانې ؟
ـ نه پوهېږم، په دوړو کې نه ښکاري.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



تواب مخکې لاړ، په ځبر يې دښتې ته وکتل، د مخکيني موټر ښيښه بربښېدله، نور په دوړو کې پټ ول.
تواب د بام پر دودکش مټې ولګاوه، يو دم شاته لاړ، له دودکشه سرې غومبسې راووتې.
تواب په منډه له بامه کښته شو.
ملک وويل:
_چا نه و درته ويلي !
د تواب شونډې وخوځېدې:
_بمبرې (غومبسې) وې.
کليوالو وخندل.
_تواب ويالې ته وروګرځېد، يوه لپه رنې اوبه يې مخ ته ور واچولې، اوږه يې درنه شوه.
جُوجُو وويل:
_څه خبره ده؟
تواب په بيړه شاوخوا وکتل، کليوال ليرې و:
_مرکه ده.
_هغه د چرګو پر سر د مړي کيسه؟
_هو.
د موټر هارن واورېدل شو، تواب په پښو ودرېد، له تنګې کوڅې درې موټره راووتل. دروازې خلاصې شوې، ټولو سپينې او ژېړې لونګۍ تړلې وې، ملک او کليوال مخکې ورغلل، غېږې يې ورکړې، پر ليکه هوارو توشکو کېناستل.
جُوجُو وويل:
_په دې خلکو کې مې ايله د خير کار وليد، پخلاينه ښه ده.
تواب غلی و.
جُوجُو وويل:
_نږدې نه ورځو؟
تواب له توت سره ودرېد.
يوه کليوال وويل:
_وه هلکانو، هلی شاباس، دا ځای ستاسو له پاره نه دی، ورشئ، چای راوړئ.
تواب او څو نور هلکان ليرې شول.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



جُوجُو وویل:
_غم مه کوه ! زه یې احوال درته راوړم.
د تواب اوږه سپکه شوه.

* * *

تواب کوټې ته ورغی، جُوجُو په تاخچه کې ځړېدلی سر ناست و.
تواب وویل:
_څه وخت راغلې؟
ځواب یې وانهورېد.
تواب ، کمپله پر پښو ورکش کړه، اوږد پرېووت.
جُوجُو وویل:
_دې ته نو انصاف نه شو ویلای.
تواب کېناست.
جُوجُو وویل:
_اجب منطق، قتل وروروکړ، په بدی کې یې خور لاړه.
تواب ورو وویل:
_په دې خبرو پسې مه ګرځه !
جُوجُو وخندل:
نو تاسو په کومو خبرو پسې ګرځئ ! څه ته ارزښت ورکوئ؟
یو دم یې بسترې ته ور ټوپ کړل، د ېوال سپینې رڼا ونیو.
جُوجُو وویل:
_دلته مې ځینې یادداښتونه لیکلې دي.
۱۵۴۴ کال، د تور ستوري دولسمه.
غلی شو، تواب ته یې وکتل، ویې ویل:
_ستاسو په حساب د ۱۳۹۲ ل کال د ثور دوهمه راځي. غوږ شه، د همدې ورځې یو یاد داښت درته لولم.
تیاره وه، پر پاخه سړک مې څو موږکان ولیدل، ورغلم، له موټرو د غنمو لوېدلې دانې یې ټولولې.
یوه موږک ته مې وویل چې موټر به مو ووهي، را یاده یې کړه چې بېغمه اوسه، امنیت خراب دی،

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ماښامه وروسته موټر نه شي را وتلی. کړپا مې واورېده، ورغلم، د پاخه سړک پر غاړه څو خړ دوکانونه ولاړ ول. غوږ مې ونیو، کړپا د پایې له سره راتله، ځیر شوم، انسان و، د برق له پایې یې یو څه خلاصول.

د یوه دوکان تر مخ په خاورو کې پراته سپي ته مې چونډۍ ور ولګوله، سپي ټوپ کړل، لیرې ودرېد، په وارخطایې یې وویل:

ـ فکر مې وکړ چې انسان دی.

بېرته خپل ځای ته راغی، وربوز یې پر خاورو ولګاوه، سترګې یې پټې کړې.

ومې ویل:

ـ دا سړی څه کوي؟

سپي خوله خلاصه کړه، اوږد اررمی یې وایست، په خوبولي غږ یې وویل؛

له خوبه مې مه باسه!

مجبور مې کړې.

سپي په پټو سترګو وویل:

ـ څه موده مخکې دلته یوه موسسه راغله، شمسیانې یې ولګولې. ښه و، مصرف یې نه غوښت، د لمر په واسطه یې بېټرۍ چارجېدلې، د شپې به سلګونو ګروپونو سپینه رڼا کوله، ټول بازار یې روښانه کړی و. خو له څو ورځو راهیسې د همدې بازار د پوستې عسکر پرې اموخته دي، هره شپه درې، څلور شمسیانې او د هغوی بېټرۍ خلاصوي، پلوري یې، ما په خپله ولیدل، کومندان یې پیسې شمېرلې.

جوجُو غلی شو، رڼا ته یې لاس ور ووړ، ویې ویل:

ـ بله پانه مې راواړوله.

د تور ستوري دیارلسمه:

سهار وختې مې په سفینه کې لیکلی تحقیق سماوه چې یو لوی درب شو، په بیړه د باندې ورغلم. تیاره وه، هېڅ هم نه ښکارېدل، د مرغانو د وزرونو شنهاری مې واورېد، پورته وختم، څو وارخطا هیلۍ مې ولېدې. یوې ته مې د درب یادونه وکړه، له وېرې یې ژبون وهل شوی و، خو بلې راته وویل چې د پاخه سړک خواته ورشه.

هماغسې مې وکړل، دوړه لا نه وه ناسته، نږدې ورغلم، د اوبو پر سر تړل شوی شل متره اوږد، پوخ پل ماته ملا پروت و.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیرې په ونو کې پاڼې وخوځېدې، هماغې خواته مې مخه کړه، دوو کسانو منډې وهلې، اوږدې ږیرې یې درلودې، یوه یې د موټر بېټرۍ په لاس کې نیولې وه، بل په روان حال کې نری سیم تړلاوه. دوی تر نږدې باغه په منډه ول، خو کله چې تر پخځې واوښتل، تګ یې عادي شو، یو بل ته یې د پله د نړېدو مبارکي ویله.

جُوجُو غلی شو. ورو یې وویل:

ـدې ته وایي وطندوستي.

تواب رنځا ته کتل.

جُوجُو وویل:

د تور ستوري څوارلسمه:

دا خلک تل په غوسه وي، هوارې تڼدې مې نه دي لیدلې، په سمه خبره کې یې کاوږ ګډ دی. دوی خندا نه پېژني. که یې خندلي هم وي نو د نورو د سپکاوي له پاره یې خندلي دي. یو ماښام یوه جومات ته ور وګرځېدم، لویان او ماشومان ناست ول، د یوه ماشوم باد پرې شو، ټولو وخندل، ډېر هومره چې سترګو یې اوښکې وکړې، ماشوم ژړل، خو د خندا غږ د هغه تر ژړا ډېر لوړ و. د یوه سړي له ډېرې خندا سا بنده شوه. له لمانځه وروسته هماغه سړی تر ټولو مخکې له جوماته ووت. پسې ورغلم، د ساراګشت له پاره یوې کنډوالې ته ورغی، هوا یې دومره خرابه کړه چې په کنده کې د ناست ملخ زړه وچاودید، خو ده ونه خندل، برعکس، قواره یې جدي ښکارېده.

بله ورځ یوه ښځه له خرې ولوېده، پر ړنګه ونه ناستو کسانو له ډېرې خندا خپلو تشو ته لاسونه نیولي وو.

په هماغه مازیګر مې په یوه بل کلي کې ډله ځوانان ولیدل، نږدې ورغلم، په یوه لیوني پورې یې پلاستیکي خلطه غوټه کړې وه، لکۍ یې ورته ویله، د خندا له لاسه په هماغه خوا مرغۍ نه ورتلې، پر اخوره ولاړ خره هم خندل، خو د هغه خندا منطقي وه، خره د انسانانو په ساده توب پورې خندل.

جُوجُو غلی شو، تواب ته یې وکتل، ویې ویل:

ـکوم کار مو سم دی؟

تواب وچې سترګې ورته نیولې وې.

جُوجُو وویل:

ـد خپلو یاد دښتونو بله برخه به درته ولولم.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ یو څه لیرې لاړم، د وهل شویو ځنګلونو په اړه مې تحقیق کاوه. سوی او ګیدړه مې وغړول، ویل یې چې د اوسېدو ځای نه دی ورپاتې، غرونه لوڅ شول، انسانانو ټولې ونې خرڅې کړې.
د څېړې د یوه سپېره نیالګي پر ښاخ کېناستم، لاندې د سیند اوبه له لویو ډبرو سره لګېدلې، شنهاري یې خوت. ناڅاپه مې یوه پېغله ولیده، سر یې لوڅ و، په منډه کې یې تور وېښته یوې بلې خوا ته کېدل. یو ځای ودرېده، شاته یې وکتل، لویې ډبرې ته یې ولې ولګول.
نږدې ورغلم، لوڅو پښو یې په تېرو ډبرو د وینو څاڅکې پرېښي ول، نجلۍ تېزه تېزه سا وهله، باد یې تور وېښته پر سپین مخ راوستل، نجلۍ پر مخ لاس تېر کړ، خو لا یې هم پر شونډو په پرته وینه کې څو تور وېښته سرېښ ول. ناڅاپه ډز شو، له تیرې ورېږ ټوټه ټوټه شوه. نجلۍ منډه واخیسته، خو په دوهم ډز ځای پر ځای ودرېده، ځنګنونه یې پر وړو تیږو ولګېدل، له ولیو څخه یې وینو داره وکړه، رنګه شوه، خړې ډبرې سرې شوې.
شاوخوا مې وکتل، دوو ځوانانو منډې راوهلې، یوه یې ټوپک درلود. نږدې راغلل، د ټوپک له نلۍ څخه د سوځېدلو باروتو بوی ته.
مړه نجلۍ یې تر لاسو او پښو ونیوله، خړو اوبو ته یې ور خوشې کړه. پسې ومې کتل، تر یو څه ځایه روانو ځګونو تور وېښته ورسره وړل، وروسته ډوب شول.
په ځوانانو پسې تر کلي ورغلم. د نجلۍ مور بدې ورځې کولې، وېښته یې شکول، کیسه مالومه شوه، د نجلۍ له خولې راوتلي و چې یو ځوان ورباندې ګران دی.
جُوجُو غلی شو. تواب ته یې وکتل، ویې ویل:
ـ ورونډ یې ووژله. اه! دا خلک دومره مظلوم دي چې ان د ګرانښت حق هم نه لري.
تواب رډې سترګې ورته نیولې وې.
جُوجُو وویل:
ـ بله پاڼه به راواړوم.
دلته له قسمه پرته خبره نه کېږي، ((په کوران که درواغ درته وایم، خدای مې دې ووهي که مې غلطه خبره کړې وي، په الله قسم که مې پیسې بېرته درنه کړې... )).
اه! دا خلک څومره پر یوبل بې باوره دي.
یو بل ټکی، دلته ژوند څومره بې هدفه دی. بس وخوره، ویده شه، اولاد پیدا کړه او کوڅې ته یې وسپاره، نه یې د ساتلو غم ورسره وي او نه هم د تربیې. تنکي ځوانان یې په کنډوالو کې ناست وي او په غرویو (ورغویو) کې چرس میدوي. بس! سپېره وړه، ورېښمینه لونګۍ او د ژمي یو پسه لاندې یې ټول ژوند دی.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر اوسه مې دا سې څوک ونه لید چې بل ته یې خیر ور رسېدلی وي. برعکس، د یو بل پښې وهي، لوی دښمن یې تر ټولو نږدې خپل (تربور) دی. تل په بدو پسې ګرځي، ټول فتوا وې ورکوي، مړ کړه، وتړه، اوبو ته یې وا چوه، هر یو یې سیاستوال دی، له سهاره تر بېګا یوه پاچاهي ړنګه کړي او بله جوړه، اه! دوی د خوشالۍ له پاره هېڅ هم نه کوي، خو غم په پیسو اخلي.

جُوجُو غلی شو، تواب ته یې وکتل، ویې ویل:

ـ ډېرې خبرې مې وکړې؟

خرهاری یې واورېد..

جُوجُو پر دېوال لاس تېر کړ، رڼا ورکه شوه.

ویې ویل:

ـ څه ښغمه خلک دي.

ورک شو.

* * *

غرمه وه، تواب د کچالو جوېې ته اوبه ور پرېښودې، پر پوله ورته کېناست، پزه یې کش شوه.

جُوجُو وویل:

ـ دهقان مو زوړ دی، مرستې دې خوشاله کړم.

د تواب تندی تریو شو:

ـ هغه ته یې ځواب ورکړ!

ـ ولې؟

ـ پرون مې پلار د وړو کندو ښځایه کاوه، دهقان ته یې احوال ور ولېږه، خو هغه ویل چې ناروغه دی.

ـ بیا؟

ـ نیکه ته غوسه ورغله، سړی یې راوغوښت، ورياده یې کړه چې نور یې په پټیو کې ونه ویني.

جُوجُو وویل:

ـ نو د کندو ښځایه کول خو د دهقان کار نه دی.

د تواب شونډې وخوځېدې:

ـ له دهقان سره یې په اوله کې ویلي و چې بېګار به ورې.

ـ واضح یې کړه!

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـدلته پر دهقان نور شرطونه هم اېښودل کېږي. د بادار کور ته د غنمو او پروړې وړل، ژرنده، د بامونو کاګل....
تواب په بېړه ولاړ شو، ببل يې ور واخيست، جوارو ته اوښتې او به يې وتړلې.
جُوجُو وويل:
ـببګا ډېر بې خوبه وي.
تواب غلی و.
جُوجُو وويل:
ـببګا ناوخته د هغې نجلۍ کور ته لاړم چې په بدو کې يې ورکړه. پوهېږې ! ځان وژني.
تواب په رڼو سترګو ورته وکتل.
جُوجُو وويل:
ـنجلۍ د تناره په خونه کې يوازې ناسته وه، کاسې، پيالې، دسترخوان، مالګه، مرچ، هر څه تيت او توشپلي پراته وو.
نجلۍ ته مې وکتل، پر مخ يې تورې ليکې ښکارېدلې. نږدې ورغلم، په اوښکو کې يې رانجه ګډ و.
د موږک ژړا مې واورېده. په دېوال کې جوړ شوي غار ته ورننوتم، يوه کوچنې موږک ژړل، په روڼ پلاستيک کې يې د غنمو د پرتو دانو خواته زورونه ور وهل، خو مور يې تر لکۍ ټينګ نيولی و.
ماشوم مې په لوږه نه لورېده، پلاستيک ته مې لاس ور وغځاوه، خو د موږک مور يودم چيغه کړه !
ـپام !
په حيرانۍ مې ورته وکتل.
د موږک مور وويل:
ـزهر دي.
لاس مې راټول کړ.
د موږک مور وويل:
ـپه دې زهرو موږکان وژني، خاوند مې تېره مياشت همدا د غنمو رنګېدلې دانې وخوړې، شېبه وروسته يې په ګېډه درد شو، سيپن نس را واوښت.
په خبره کې يې ور ولوېدم.
ـنو دا زهر دلته څه کوي؟
د موږک مور وويل:
ـلومړی مې زوی تر لکۍ ونيسه.

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغسې مې وکړل.
د موږک مور د باندې ووته، خو ماشوم ژړل، زورونه یې وهل او د غنمو دانې یې غوښتې.
د موږک مور د وچې ډوډۍ له یوې وړې ټوټې سره بېرته راغله.
کوچنی غلی شو، ډوډۍ یې ور واخیسته، کونج ته کرار پرېووت.
مور یې وویل:
ـ مازیګر مې د نجلۍ چیغې واورېدې، د اور د خونې کړکۍ ته ور وختم، نجلۍ په چوتره کې ناسته وه، په لندو سپینو پایڅو پورې یې توره خاوره ښکارېدله.
مور یې راغله، د نجلۍ سر یې په خپل ټټر پورې ونیو، پر خړو غومبورو یې اوښکې روانې شوې.
وروسته یې نجلۍ ولاړه کړه، دواړه کوټې ته ننوتل.
زړه مې بې طاقته شو، د اور له خونې د باندې ووتم. په انګړ کې مې د نجلۍ پلار ولید، خپلې وړې لور ته په غوسه و، ویل یې چې زانه چا خبره کړه؟
وړې نجلۍ په وارخطایۍ وویل چې له زانې سره کاربزه ته تللې وه، دواړو منګې ډک کړل، کور ته د راتګ په حال کې مو د حاجي تور وړه لور ولیده، غوا یې اوبو ته وروستله، زانې ته یې وویل چې په بدو کې یې ورکړې. زانې چیغه کړه، له اوږې یې منګی ولوېد او د کور خواته یې منډه راواخیسته.
د زانې پلار یوه شېبه ولاړ و، بیا یې د ابدان څوښکي ته بدنۍ ونیوله، اودس یې وکړ او له انګړه د باندې ووت.
کوټې ته ورغلم، زانه پر کټ ناسته وه، سلګۍ یې وهلې.
مور یې په خواره خوله وویل:
ـ قسمت به دې همداسې و.
زانې یودم چیغې کړې:
ـ هغه سړی تر پنځوسو کلونو اوښتی دی، بله ښځه هم لري.
د زوی ژړا مې تر غوږ شوه او له هغه ځایه راووتم.
موږک غلی شو.
ومې ویل:
ـ ټوله کیسه راته ووایه.
موږک چیغه کړه !
ـ مه !



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو دم یې زوی له لکۍ ور کش کړ.
ورومې کتل، د زوی تېره نوکان یې لا په پلاستیک کې بند و.
د موړک مور خپل زوی ته پاتې ډوډۍ ونیوله، زوې یې پر وچه ډوډۍ خپل تېره غاښونه ټینګ کړل،
خو لا یې هم ګردې وړې سترګې له غنمو نه اړولې.
د موړک مور وویل:
_تر ماخوستنه دلته وم، د لوښو کړپا مې واورېده، ورغلم، په سرای کې لاټین بل و، زانې ناولې
لوښي پرېمینځل. د جارو تر شا پټ شوم، زانې ته مې وکتل، په سرو سترګو کې یې د لاټین رڼا
ښکارېدله.
وروسته یې ډک تشت پرېولي لوښي د اور خونې ته یوړل، پسې ورغلم، زانې د ټکري پیڅکې ته ور
لوېدلې غوټه خلاصوله. زړه مې خولې ته راغی، دې د موړکانو د زهرو پلاستیکي خلطه پر غولي
کېښوده. کیناسته، دغنمو رنګ شویو دانو ته یې وکتل، یودم یې چیغه کړه.
زانې تر ډېرو ژړل، وروسته سلګیو واخیسته، پورته یې وکتل او لاسونه یې لپه کړل.
ما یې غږ نه اورېده، خو د نجلۍ شونډې خوځېدلې.
د هغې سترګو ته مې وکتل، رانجه یې اوښکو وهلې و.
بیا یې پلاستیکي خلطه ورواخیسته، ورغوی یې د غنمو له دانو ډک کړ. خولې ته یې ور ووړ،
ناڅاپه کړپ شو، ژر یې ډک غروی (ورغوی) بېرته په پلاستیکي خلطه کې تش کړ، د باندې ووته.
ورغلم، پاکټ مې تر ژۍ ونیو او غار ته مې راکش کړ..
له چوترې نرۍ غږ راغی، مور یې زانې ته په غوسه وه چې په لوړه وید بدل ښه نه دي.
د زوی زګېروی مې واورېد، په خوب کې یې د پزې وړه، سره څوکه یوې بلې خواته کوله، پوه شوم
چې د غنمو بوی پرې لګېدلی و.
یو دم پیالې وکړنګېدې، ورغلم، زانه په زهرو پسې ګرځېده، د پلاستیکي فرش څنډې یې
واړولې، پریمینځلي لوښي یې سره تیت کړل، تاخچه یې وکته، یو دم یې کوکه کړه، د مرچو او
مالګې ډبلې یې لاندې راوغورځول، کونج ته غلې کېناسته.
بس، همدومره.
جُوجُو غلی شو، لیرې د بایسکل زنګ وکړنګېد. جُوجُو د کچالو د بوټي تر پاڼو ور وکتل، په نرۍ
لاره کې ډنګر سړی ولاړ و.
سړي په لوړ غږ وویل:
_نیکه دې په کور کې دی؟

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



تواب ورغږ کړل:

ـ هو ! خیریت و؟

ـ د حاجي ستار د لور جنازې ته یې غوښتی.

ـ کوم ستار؟

سړي پر بایسکل پښه واړوله. په تګ کې یې وویل:

ـ د ړنګ کاریز د کلي.

تواب ودرېد ، چیغه یې کړه !

ـ کومه یوه؟

د سړي غږ د بایسکل د ټیم له ټکا سره ګډ شو:

ـ هغه چې پرون یې په بدو کې ورکړه.

جُوجُو وویل:

ـ اه !

ورک شو.

* * *

ماسختن تواب د نیکه پر لاسونو اوبه ور اچولې چې بدنی کرېږ شوه.

نیکه چیغه کړه:

ـ ړوند یې، درې دې لنده کړه.

تواب غلی و. تره ته یې وکتل، سترګې یې له غوسې ډکې وې. تواب د نورو پر لاسونو هم اوبه ور واچولې، تر چوترې ښکته شو ، چلمچي یې تش کړ، اوبه یې درنه شوه.

تواب په غوسه وویل:

ـ بدنی د ناستي ځای نه و.

جُوجُو په خبره کې ورولوېد:

ـ بیږه لرم، باید خبرې وکړو.

تواب وویل:

ـ ټول ناست دي، کوټې ته نه شم تلای.

له چوترې یې د پلار له غوسې ډک غږ راغی:

ـ له ځان سره مه بونګېږه ! سمه خبره وکه !

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



تواب وارخطا شو:

ـځه ! ځه مې نه دې ویلي.

چوترې ته ور وخوت، غلی کېناست.

نیکه چیغه کړه !

ـبلا ! وه بلا ! د لمانځه ناوخته شو.

له دالانه ښځینه وارخطا غږ راغی:

ـچای دم دی، یوازې پیالې مینځم.

چو په چوپتیا شوه، د تناره له خونې د پیالو کړنګا راتله.

نیکه په غوسه وویل:

ـکم عقله نجلۍ ! ځان یې زندی (غرغره) کړ، نه د دې دنیا شوه نه د هغې.

د تواب غوږ وتخنېد، جُوجُو وویل:

ـورته ووایه چې دا دنیا خو تاسو ور خرابه کړه.

تواب په غوسه وویل:

ـچوپ !

د تواب پلار یو دم چیغه کړه !

ـخره !

سړي چپلکې ته لاس ور وغځاوه، تواب ټیټ شو، چپلکه پر یوه کوچني هلک ولګېده. هلک په چیغو د اور خونې ته منډه واخیسته.

د تواب پلار لاس ور وغځاوه، تواب یې له ښی پښې کش کړ، تواب غبرګې څنګلې خپل مخ ته ونیولې، درنه څپېړه یې غوږ ته سیخه شوه.

نیکه چیغه کړه !

ـمه ! هلک دی.

د اور له خونې وارخطا ښځې راووتې.

د تواب پلار شاته شو.

تواب په ژړغوني غږ وویل:

ـپه کوران که مې نیکه ته ویلي وي.

تره یې چیغه کړه !

ـمخ دې تور، ټولو واورېدل.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



تواب منډه واخیسته، کوټې ته لاړ، په تیاره کې غلی کېناست.
د جُوجُو خواشینې غږ یې واورېد:
ـ وبښه !
تواب وسونګېد.
جُوجُو وویل:
ـ مه ژاړه، هسې هم خفه یم.
تواب چیغه کړه !
ـ دا وخت نو د پوښتنې و ؟
جوجُو وویل:
ـ نن شپه ځم.
تواب نیغ کېناست:
ـ ولې؟
ـ تحقیق مې خلاص شو.
ـ بیا به دې ووینم؟
ـ نه شم راتلای، دلته د خوشالۍ خبره نشته، تر دې ځایه د غږ ماشین هم نښه دی. خو تا زحمت راسره وایست. مننه.
جُوجُو ورک شو.



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * *

تواب له وچو پاڼو د انګورو څو ژېړې دانې ور ټولې کړې، خولې ته يې واچولې، د پولې پر سر غلی کېناست. شاوخوا يې وکتل، په تاکونو پورې لا يوه، نيمه وچه پاڼه باد وهله.

تواب چيغه کړه !

ـ اررې ! ! !

پسونه د باغ دروازې ته ور روان ول.

تواب له ځمکې يوه لويه لوټه ورپورته کړه، لوټه د دروازې په زنګ وهلې اهن چادر ولګېده،

پسونه بېرته راوګرځېدل. تواب کېناست، سر يې وځړېد، له ځمکې يې يو خلی ور پورته کړ، پر خاورو يې څو ليکې وايستې.

څنګ ته يې وکتل، يو دم يې چيغه کړه، تر پولې يې ټوپ واچاوه، ودرېد. ورمېږ يې کوږ کړ، جُوجُو ځړېدلی سر ناست و.

تواب وويل:

ـ له ما خو دې زړه وايست.

جُوجُو غلی و.

تواب وويل:

ـ څه وخت راغلې؟

جُوجُو سر پورته کړ:

ـ نه اورم !

ـ څه وخت راغلی؟

جُوجُو په لوړ غږ وويل:

ـ غوږونه مې درانه دي، ستا سو په حساب درې ساعته د غږ په ماشين کې وم.

تواب د جُوجُو تر څنګ کېناست. هغه ته يې وکتل، په شنه سترګه کې يې پخوانۍ ځلا نه وه پاتې.

جُوجُو وويل:

ـ د ځمکې د کرې له څنګه تېرېدم، را په ياد شوې.

تواب په حيرانۍ ورته کتل:

جُوجُو وويل:

ـ کور ته مو ورغلم، نيکه دې په کمپله کې ځان پټ کړی و، ټوخل يې. بيا مې د اور کوټه درپسې وغوښته، خو هلته هم نه وې، له غوا مې پوښتنه وکړه، ويل يې چې باغ ته يې پسونه بېولي دي.



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



جُوجُو غلی شو، په ښي اوږده غوږ کې يې ګوته ننه ايسته، لاس ته يې ټکان ورکړ، ويې ويل:
ـپه دريو، څلورو مياشتو کې لوی بدلون راغلی دی، هغه ولاړ فصلونه، شنې پاڼې، رنګارنګ مرغان، هېڅ هم نشته، هره خوا سپېره ده.
تواب وويل:
ـمنی دی.
جُوجُو غوږ ور نږدې کړ.
تواب چيغه کړه !
ـمنی دی.
جُوجُو يو دم شاته شو، ويې ويل:
ـدومره هم نه.
غلی کېناست. ويې ويل:
ـجزا يې راکړه.
تواب په حيرانۍ ور وکتل:
ـولې؟
ـنه يې منله، ويل يې چې دا هر څه دروغ دي.
تواب وويل:
ـڅه؟
ـتحقيق يادوم، د منلو وړ نه ورته ښکارېده.
تواب په حيرانۍ ورته کتل:
جُوجُو وويل:
ـتحقيق مې معلم ته ور وسپاره، خوشاله وم، د ښو نومرو تمه مې درلوده، خو په سبا يې د مکتب ادارې ته ور وغوښتم. د مکتب مدير او معلمين په غوسه ښکارېدل. ټول په يوه خوله ول چې تحقيق دروغ دی. حيران شوم، د وضاحت غوښتنه مې وکړه. د ستورو پېژندنې معلم ولاړ شو، ويې ويل:
ـمدير صاحب ! زه تېر کال ځمکې ته تللی وم، ډېرې برخې مې ولېدې، او سېدونکو يې سم ژوند درلود، په مينه يوه‌ېدل، له يو بل سره يې همکاري کوله، خپل وطنونه ورباندې ګران وو، غلا، نورو ته په سپکه کتل، ظلم او وحشت يې بد ياداوه. ما په ځمکه کې داسې څه ونه ليدل، لکه جُوجُو چې ليکلي دي.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



جُوجُو غلی شو، سرېي وځړېد، ويې ويل:
ـد ځمکې په کره کې مې د افغانستان نخشه ور وښوده، خو يوه هم باور نه کاوه.
د اخلاقو استاد له مدير نه د پوپو د راوستلو اجازه وغوښته. پوپو تر ما يو صنف مخکې دی، په درس کې مثال نه لري، درې پرله پسې صنفه يې د فکر پاڼه جايزه وړې.
پوپو راغی او په احترام ودرېد.
د اخلاقو استاد، مدير ته وکتل:
ـپوپو تېر کال ځمکې ته تللی و. په تحقيق کې يې مختلف هېوادونه ياد کړي دي، که مو اجازه وي، نو زه به له پوپو څخه څو پوښتنې وکړم.
د مدير شنه سترګه ورېږده.
د اخلاقو معلم پوپو ته مخ ور واړاوه:
ـد جُوجُو تحقيق مې مطالعه کړ، ليکلي يې دي چې انسانان د نجونو د تعليم مخالف دي.
پوپو وويل:
ـداسې نه ده، زه د بنګله دېش په نوم يوه وطن ته لاړم. يوه کورنۍ مې وليده، له نيستۍ د سړک په لوی پلچک کې اوسېدل. خو په نجونو او هلکانو يې درس وايه، په تحقيق کې مې هم ليکلي دي، په همدې کور کې څلور ماشومان اوسېدل، درې يې نجونې وې، مور به يې هر سهار وېښته ور چوټي کړل او د مکتب جامې به يې ور واغوستې. زه په ځمکه کې تر سلو ډېرو هېوادونو ته تللی يم، په خوار او شتمن، کافر او مسلمان کې مې داسې څوک ونه ليدل چې د نجونو له مکتب سره مخالف وي.
د اخلاقو معلم وويل:
ـجُوجُو ليکلي چې دې خلکو مينه نه پېژندله، تل يې د يوبل پښې وهلې، کرکه،دروغ او غلا پکې حاکمه ده.
پوپو يو دم وخندل، غلی شو، ښښنه يې وغوښته، ويې ويل:
ـدا نو د منلو وړ نه ده. زه په ډېرو ځايونو وګرځېدم، خو په انسانانو کې مې کرکه ونه ليده. دوی له يو بل سره په مينه ژوند کوي، يو وخت يوه افريقايي هېواد ته لاړم، په روغتون کې مې يوه تورپوستې ښځه ولېده، نه پوهېدم چې څه ورباندې شوي وو، خو د بدن ټولې غوښې يې شړېدلې وې. هر څه يې په بستره کې ول. ما په خپله وليدل، يوې سپين پوستې نرسې يې ځای ور پاکاوه، وروسته يې تشناب ته يووړه او په خپلو لاسونو يې پرېمينځله. نرسه موسکه وه، په تندي کې يې ان يوه نرۍ ګونځه هم نه ښکارېدله.

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتې شوه د دروغو خبره. دروغ خو په هر دين کې ناروا دي، انسان مړ که، خو دروغ به ونه وايي.
د اخلاقو معلم وويل:
ـد جُوجُو په تحقيق کې مې ولوستل چې انسان پوچې خبرې کوي.
پوپو وخندل:
ـنه يې منم، ما د ډېرو خلکو خبرې واورېدې. غټه غوسه يې د (وبخښۍ) ټکی دی.
د اخلاقو استاد بله پوښتنه وکړه!
ـد قسمونو په اړه يې څه وايې؟
ـ قسم خپل شخصيت ته تاوان ګڼي، انسان په دې باور دی چې رښتيا خبره قسم نه لري.
استاد وپوښتل:
ـجُوجُو وايي چې د ځمکې خلک په خپل سر يو بل وژني؟
ـنه، هر هېواد خپل قوانين لري، دوی محکمه ورته وايي، د قاضي په نوم يو څوک پرېکړه کوي، خو پرېکړه يې هم هوايي نه ده، تحقيق کوي، شاهدان غوښتل کېږي او که يو څوک مجرم وپېژندل شي، د هغه جرم ته په کتلو سره سزا ورکوي. ما په ډېرو ملکونو کې تحقيق وکړ، خوار او غريب، ټول خپلو قوانينو ته احترام لري.
يوه ورځ مې يو ځای د انسانانو ګڼه ګوڼه وليده، ورغلم، يوه وړه نجلۍ د موټر تر ټاير لاندې وه. مور يې بدې ورځې کولې، ژړل يې. خو موټروان ته يې څه نه ويل. امبولانس راغی، د نجلۍ مړی يې يووړ. د پوليسو موټر ودرېد، موټروان په خپله ور روان شو.
د اخلاقو استاد وويل:
ـد ځمکې خلک له حيواناتو سره څنګه رويه کوي؟
ـاه! پوښتنه يې مه کوه. هېڅوک حق نه لري چې کوم حيوان ته ضرر ور ورسوي، ښکار بند دی. ان په ډېرو سيمو کې يې د حيواناتو د اوسېدو له ځايه جالۍ راګرځولې دي. انسانان وېره لري چې موټر يې ونه وهي. دوی له حيواناتو سره مينه لري، خوراک ورکوي او ډاکټران يې ورته ټاکلي دي. دوی په حيواناتو وياړي او له ډېرو ليرو سيمو څخه نور خلک د ليدو له پاره ورځي. ما په خپله ځيني افريقايي هېوادونه وليدل، ډېر عايد يې له همدې برخې پوره کېږي.
د اخلاقو معلم وويل:
ـخو د جُوجُو تحقيق هغه څه نه دی چې ته يې وايې؟
پوپو ما ته وکتل.
د اخلاقو معلم وويل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـیوه وروستۍ پوښتنه. جُوجُو ادعا لري چې انسان خپل پل، سړک، مکتب، د برق پایې... له مینځه وړي ! انسانان په وطن پالنه کې څنګه دي؟

د پوپو سترګه وځلېده:

ـزه به یوه کیسه درته وکړم. په یوه وطن کې مې یو ماشوم ولید ، خپل بیرغ ورسره و. منډې یې وهلې، یو دم یې پښه بنده شوه، ولوېد. بېرته په پښو ودرېد ، زنګون یې وینې و ، خو ده په خارو سپېره شوی بیرغ ښکلا وه.

هر انسان له خپل هېواد سره مینه لري، دوی ته هر څه خپل وطن دی. هڅه کوي چې پاک یې وساتي، ښکلی یې کړي او په ابادۍ کې یې برخه واخلي. ما په ځمکه کې داسې وطنونه ولیدل چې پلونه، سړکونه او تعمیرونه یې د ښیښو په څېر ځلېدل. په دوی کې هغه څوک د احترام وړ دی چې خپل وطن ته ګټور وي.

پوپو غلی شو ، ماته یې وکتل، ورو یې وویل:

ـنه پوهېږم ! ما خو په ځمکه کې یوازې وطن دوستي ولېده. جُوجُو شاید کوم بل ستوري ته تللی وي.

د اخلاقو معلم وویل:

ـتلی شې.

پوپو له ادارې ووت.

مدیر د فکر د پاڼې یوه وړه ټوټه خولې ته واچوله. یوه شېبه غلی و ، وروسته یې سر پورته کړ، په غوسه یې وویل:

ـجُوجُو په دې ستوري کې لومړنۍ کس دی چې دروغ وایي، ځکه نو باید سخته جزا ووینې. دی تر ټولو د ډېر وخت له پاره د غږ په ماشین کې واچوئ. له مکتبه هم اخراج دی.

ناڅاپه عکسونه را په یاد شول، ښه ثبوت و ، د خپل تحقیق د سپینولو له پاره مې اجازه وغوښته، سفینې ته لاړم او له هغه ځایه مې د مکتب ادارې ته برقي عکسونه ور ولېږل.

خوشاله وم، ځان مې د سترګو په رپ کې ور ورساوه، مدیر او نورو استادانو د بوال ته کتل.

د تاریخ استاد پر دېوال لاس تېر کړ، خړه کلا راغله. ویې ویل:

ـدا عکس دې له کومه کړ؟

په خوشالۍ مې وویل:

ـد تحقیق په وخت کې مې واخیست.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد د یوې ماشومې عکس راووست چې په خاورو کې ناسته وه، ببر وېښته یې درلودل او په غاړه یې څو ژېړ پیاز راځړېدل.
استاد وویل:
_دا؟
ځواب مې ورکړ:
_د تحقیق په وخت کې مې واخیست.
استاد یوه بل عکس ته اشاره وکړه. په عکس کې زاړه او واړه راټول وو، دوه سپي یې سره جنګول، د سپیو خولې او غاړې په وینو کې سرې وې.
ومې ویل:
_د تحقیق په وخت کې مې واخیست.
بل عکس راغی، کوچني کوچي هلک پرتوګ نه درلود، مچان پرې بونېدل.
استاد څو نور عکسونه هم واړول، په یوه کې د دوو ماشومانو په وچه ډوډۍ جنګ و، شاته یې ښځو خوشایي تېل، په بل کې د کلي نایي په خاورو کې د ناست بوډا پر پښه داغونه اېښودل، بل...
مدیر وویل:
_بس دی، پوښتنه دې وکړه!
د تاریخ استاد خپل غټ غوږ وګراوه، شنه سترګه یې وځلېده، ورو یې وویل:
_ټول دروغ دي.
په خبره کې یې ورولوېدم.
_تاسو ولې دومره بې باوره یاست؟
مدیر چیغه کړه!
_ادب.
غلی شوم.
د تاریخ معلم له مدیر نه اجازه وغوښته، ماته یې وکتل، ورو یې ویل:
_زه د انسانانو په حساب درې سوه کاله مخکې ځمکې ته تللی وم، هغه وطن ته لاړم چې ته یې اوس د تګ ادعا لرې. هماغه وخت لا دې خلکو د ختېو په کورونو کې ژوند کاوه، در په دره، وږې او بې تعلیمه ول، ژوند یې په سخته تېرېده، هېڅ سهولت یې نه درلود. هغه وخت یې هم اور په خوشایو بلاوه، امکان نه لري چې په دریو سوو کلونو کې دې څوک بدل نه شي.
د تاریخ معلم غلی شو، شنه سترګه یې وځلېده، ماته یې وکتل، ورو یې وویل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ رښتيا ووايه، د درې سوو کلونو مخکې عکسونه دې له کومه کړل؟
دا خبره نو د زغملو نه وه. پر دېوال مې لاس تېر کړ، ستا د نيکه عکس مې ورته راووست چې له ټيوټا موټر سره ولاړ و. د تاريخ استاد ته مې وويل:
ـ اوس نو مه وايه چې درې سوه کاله مخکې، موټر هم ول.
د تاريخ استاد عکس ته وکتل، په زوره يې وخندل:
ـ کوټ، کوټ کوټ... د عکس په جوړولو کې جوړه نه لرې.
يو دم يې پر عکس لاس کېښود، جدي څېره يې ونيوله، په زوره يې وويل:
ـ مدير صاحب! د عکس تر شا ډېران او رنګ دېوالونه دي. خاورې، خړ کورونه، په خاورو کې بې پرتوګه ناست خيرن ډنګر ماشومان، سپېره مخونه، پر دېوال سريښ ګرد ګرد خوشايي... ټول هغه څه دي چې ما درې سوه کاله مخکې ليدلي وو، دا يې بله ګناه. جُوجُو د موټر عکس په درې سوه کاله مخکې عکس کې ګډ کړی دی.
مدير ولاړ شو:
ـ پرېکړه هماغه ده. له مکتبه اخراج او د غرب په ماشين کې اېښودل.
چيغه مې کړه!
ـ نه يې منم!
د ستوري پېژندنې استاد په پښو ودرېد، شنه سترګه يې را واړوله، ورو يې وويل:
ـ اقرار وکړه! له دروغو څه نه جوړېږي.
ومې ويل:
ـ خو تحقيق او عکسونه دواړه رښتيا دي.
د ستورو پېژندنې استاد پر دېوال لاس تېر کړ. عکس راغی. پاک او ښکلی ښارو، د لمر رڼا د هسکو تعميرونو ښيښې ځلولې، تر شنو ونو لاندې پر تور پاک سړک منظم پرېولي موټر روان ول.
استاد وويل:
ـ دا عکس مې څه موده مخکې د ځمکې له يوې برخې واخيست.
بل عکس يې راووست. شنې ونې وې، د سرو او ژېړو ګلانو په مينځ کې څو خوشاله ماشومانو ټال خوړ، له رنګه او جامو پاک او تازه ښکارېدل.
بل عکس راغی. له تورو حجابونو د پېغلو سپين، تازه مخونه راوتلي ول، پر سرو شونډو يې موسکا پرته وه، مکتب ته تلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور عکسونه هم بدل شول، په هوا کې د ربل پټلۍ او تور سرکونه، د طیارو او کمپیوټرو د جوړولو کارخانې، په نس ماره خلک، شنه او پربوللي ځنګلونه، د خلکو په مینځ کې کرارې هوسۍ... ټول هغه څه و چې زما له عکسونو سره یې فرق درلود.

ومې ویل:

ـتا یوازې اباد ملکونه را اخیستي دي.

استاد وخندل:

ـاه ګرانه ! د خوارو انسانانو عکسونه هم راسره شته، خو هغه هم ستا د تحقیق خلاف دي.

استاد خپل لاس پر دېوال تېر کړ، عکس راغی، یوې زړې ښځې یوه ببر سري لیوني ته په کاشوغه کې خواړه ورکول.

استاد وویل:

ـدا خلک مې په یوه اسیایي غریب هېواد کې پیدا کړل، خو بیا هم ستا د تحقیق تر انسانانو ښه دي، خوار به وي، خو په لیوني پورې پلاستیکي خلطې نه تړي.

یو بل عکس یې راووست:

استاد وویل:

ـدلته یو خوار ړوند بوډا ښکاري، تر سرکه نه شوای تېرېدای، تر څنګ ولاړ سړی یې میلیونر دی، د کیمیاوي سرې کارخانه لري، له خپل موټره ځکه راښکته شوی چې بوډا تر سرک واړوي.

بل عکس راغی:

ـدلته ګنه ګونه ده، په سلګونو ښوزله خلک د خپل ښار د پاکولو له پاره راوتلي دي. وطن ورباندې ګران دی.

مدیر چیغه کړه !

ـبس دی ! نورو دلایلو ته ضرورت نه لیدل کېږي، معلومه شوه چې د ځمکې په ټوله کره کې دومره ساده خلک نشته لکه جُوجُو چې په تحقیق کې لیکلي دي.

استاد پر دېوال لاس تېر کړ، عکسونه ورک شول، ماته یې وکتل، ورو یې وویل:

ـپه خوارو او غریبو، دواړو کې مې نیمایي عکسونه په مسلمانو هېوادونو کې اخیستي وو.

جُوجُو غلی شو. تواب ته یې وکتل ویې ویل:

ـد غږد ماشین جزا مې تېره کړه، خو له مکتبه پاتې کېدل راته سخته وه، پلار مې ورغی، مدیر ته یې خواست وکړ چې زوی ته مې یو بل چانس هم ورکړه. جلسه کېناسته، ویې منله، اوس یې له سره په تحقیق پسې رالېږلی یم.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



تواب په خبره کې ور ولوېد:
ـ دلته تحقيق کوې؟
جُوجُو وخندل:
ـ اه ګرانه! بيا مې مه شرموه.
ورک شو.

پای

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لراوبر برېښنايي کتابتون

**قدرمنو لوستونکو !**

تاسو کولای سئ د لراوبر ویبپاڼې په برېښنايي کتابتون کي زيات شمېر ارزښتناک او په زړه پوري آثار په خپل تفريحي وخت کي مطالعه کړئ .

د لراوبر انلاين کتابتون ستاسو لپاره د لاندينيو موضوعگانو اړوند آثار پر ليکه کوي :

- **اسلام او مذهب**
- **ساينس او تخنيک**
- **سپورټ او روغتيا**
- **تاريخ او سياست**
- **هنر او ادبيات**
- **دماشومانو لپاره**
- **بېلابېل آثار**




[www.Larawbar.net/library](http://www.Larawbar.net/library)

WWW.LARAWBAR.COM

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library